

په بادام باغ کې د ښځو زندان، ©لالاگی سنو، ۲۰۱۱.

# میرمني او افغان پولیس

## ولې یوه د قانون ترسره کوونکی اداره کومه چی د ښځینه وو درناوی او ساتنه کوي، د پرمختګ لپاره ډیره مهمه ده

د افغان ملي پولیسو یواځې یوه سلنه یې میرمنې دي، سره له دې چې ښځینه پولیسې د افغان میرمنو لپاره حیاتي انګیرل کیږي ترڅو وکولای شي د جرمونو راپور ورکړي او د تمی وړ اړین قضاوت ته لاس رسی ولري، په افغانستان کې به په هر صورت لږ شمیر ښځې راښکیل شي.

په بیړنی توګه د لا نور کار اړتیا شته، ترڅو افغان ښځینه پولیس افسران وګمارل شي، وروزل شي او وساتل شي. دغه چاره د افغان میرمنو او انجونو د حقوقو د ملاتړ لپاره اړینه دی او کولای شي چې په افغانستان کې له تل پاتې سولې او پرمختیایي هڅو سره مرسته وکړي.



OXFAM

# اجرائیوي لنډیز

د افغانستان لومړنی شځینه پولیسي خپله دنده په کال ۱۹۶۷ کې په غاړه واخیسته -دری کاله وروسته افغانو ښځو د رایې د ورکولو حق ترلاسه کړ. تر اوسه پورې د هیواد د پرمختیا د ګڼ شمیر نورو برخو په شان، د وروستیو لسیزو سیاسي بدلونونو او منازعو هغو ته زیان واړولو او کله چې په کال ۱۹۹۶ کی، طالبان واک ته ورسیدل ښځې په پولیسو کې له کار کولو څخه راوګرځول شوې.

د تیرې لسیزې په اوږدو کې افغان دولت او نړیوالو مرستندویانو سخت کار وکړ ترڅو د افغان ملي پولیسو په کډون د هیواد د اساسي بنستونه ورغوي. دولت ګڼ شمیر تدابیر ترلاس لاندې ونیول ترڅو ښځې په افغان ملي پولیسو کې وګماري. چې د هغو په شمیر کې د زیاتوالي د رامنځ ته کیدو لامل شو. په کال ۲۰۰۵، افغان ملي پولیسو له ۵۳۴۰۰ تنه پرسونل څخه یواځې ۱۸۰ تنه میرمنې وګمارلې. د ۲۰۱۳ کال په جولای کې د ۱۵۷۰۰۰ پرسونل په ډله کې ۱۵۵۱ تنه ښځینه پولیسو خدمت کاوه.

ټول افغانان په دې ولاړ دي چې د قانون د پرځای کولو له هغې اغیزمنې او مسؤولی اداري څخه ګټه پورته کړي په کومه کې چې ښځینه پولیسي خپله ونډه لوبوي - خو نه زیات له میرمنو او انجونو څخه، په داسې یوه هیواد کې چیرته چې په زور ودونه، کورنی تاوتریخوالی، جنسي ځورونه او وژنې په حیرانوونکي توګه عامې دي.

رسمي ارقام د لږې راپور ورکونې په وسیله منحرف کیږي خو په حقیقت کې له ۸۷٪ څخه زیاتې میرمنې لږ ترلږه له فزیکي، جنسي او یا هم رواني زوروونې څخه زوریږي، د ۲۰۰۸ کال له دقیقې سروې سره په سمون کې، له نیمایي څخه زیاتو میرمنو د تاوتریخوالي له بیلابیلو ډولونو څخه د زیانمن کیدو تجربه له ځانه سره لرله[1].

ترراپور لاندې مهمه برخه - کومه چې د قانوني څارنې د کمښت او د معافیت له فرهنګ سره مرسته کوي -په قسمي توګه رامنځ ته کیږي، داځکه چې د فرهنګي دودونو له امله، نارینه پولیسو افسرانو ته د ډیری افغانو ښځینه وو لاس رسی منع دی. د ښځینو په ګمارنه کې له تدریجي پرمختګ سره، ښځینه پولیسی د افغان ملي پولیسو یواځې د یوې سلنې استازي توب کوي، په داسې حال کې چې دغه چاره په کلیوالي سیمو کې ډیره کم رنګه دی. د دې په پایله کې چې کم شمیر افغانان یوه ښځینه پولیسه وینې، ډیری ښځې او انجونې له دې څخه بې برخې پاتې کیږي ترڅو د دوی په وړاندې د تاوتریخوالي او جنایت په هکله راپور ورکړي.

له دې سره یو ځای د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسون موندلې دی چې د ښځو د وژنې او د هغو په وړاندې د جنسي

زوروونې په ډېرى پېښو کې په خپله پولیس شکیل دي. دغه ډوول جنایات په افغان پولیسو باندې د عوامو اعتماد او په خپله د دولت قانونیت ته درووند زیان اړوي. د افغان ملي پولیسو ناپیلې او اغیزمنه څارنه، د حساب ورکوونې ، د پولیسو د چلند او په هغو باندې د عامه اعتماد پرمختللې کولو ته اړتیا لرى.

## سختې ننګوونې

د ښځینه پولیسو د ګمارنې ګړندې کول د حل یوه مهمه برخه دى. په داسى حال کې چې، ګڼ شمیر ننګوونې شتون لري چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه ۵۰۰۰ تنو ته د ښځینه پولیسو د شمیر د رسیدو موخى ته د رسولو هڅې له پاتې راتلو سره مخامخ کوي. دغه ننګوونې، یواځې د ښځینه پولیسو په ګمارلو سره په ښه توګه نه شي په نښه کیداى، بلکه دا هم مهمه دى چې په دنده کې د دوى پاتې کیدل او تولنو ته د دوى اغیزمن خدمت ډاډمن شي.

له دغه ډوول ننګوونو څخه یوه هم د هغو د نارینه مرستندویانو له لوري د هغو جنسي ازار او اذیت دى. د امریکې د متحده ایالاتو پر مبنا د ملي عامه راډیو د ۲۰۱۲ کال څیړنو د ښځینه پولیسو په ناموس د تیري او د هغو د جنسي ازار او اذیت په هکله په پراخه کچه څرګندونې موندلې دي.

د بلخ ولایت په مرکز د مزار شریف په ښار کې چې په هیواد کې د ښځینه پولیسو دریمه لویه برخه لري. ملي عامه راډیو وویل چې هغې داسې پیښې موندلې دي چې لوړ پوړو نارینه پولیسو د پرمختګ په بدل کې له ښځینه پولیسو څخه د جنسي تمایل غوښتنه کړې دى.

**(مونږ په دې اړه چې نارینه وو ته د خپلو ستونزو په اړه ووایو ډیر شرمیږو. مګر میرمنې زمونږ په شان دي: هغه په هغه ډوول احساس کوي چې مونږ یې کوو.)**

مریم۱، یوه اتلس کلنه، د لوګر له ولایت څخه د تاوتریخوالي یوه ښځینه قرباني.[2]

سره له دې چې د افغان ملي پولیسو تشکیل ۳۲۴۹ پوسته د ښځینه ملکي کارکوونکو او د پولیسو افسرانو لپاره نیولي دي، میرمنو د دغو پوستونو له نیم څخه لږ نیولي دي. دا په قسمي توګه له دې امله دى چې د پولیسو ډیرى ولایتي افسران د میرمنو له ګمارنې سره لږه لیوالتیا لري. له دې سره سره د پولیسو په مشرانو او همدارنګه د افغانستان د کورنیو چارو په وزارت کوم چې د سمونونو د رامنځ ته کولو په موخه افغان ملي پولیس څاري، لږ فشار شتون لري ترڅو ښځینه پولیسي وګماري.

منفي چلندونه او فعالیتونه وروسته له دې چې ښځینه پولیسې وګمارل شوې پرځاى پاتې کیږي. ښځینه پولیسي ځینې وخت د یونیفورم په څیر لومړني توکي د هغه څه په پرتله چې نارینه یې ترلاسه کوي، لږ ترلاسه کوي. د دوى ډیرى خپل ځان داسې انګیري چې

---

1چیرته چې مناسبه وي: نومونه د امنیتي دلایلو له امله بدل شوي دي.

د چای د چمتوکولو په څیر کوچنۍ دندې ترسره کوي او لږ روزنه او یا هم هیڅ روزنه نه ترلاسه کوي. فرصتونه چې دوی خپل مهارت پکښې زیات کړي ډیر محدود دي، چې دا چاره د ورو او لوړ همتو ښځینه پولیسو د بی علاقه ګۍ او نه بشپړیدو لامل ګرځي.

سره له دې چې ځینې ښځینه پولیسې لږ بنسټیز مهارتونه او خپلو ټولنو ته د خدمت کولو په موخه لږه هڅوونه لري خو لا تر اوسه هم ښځو په پام کې نیول شوو پوستونو په موخه پرمختګ کوي. دغه ډوول ستونزې په ښځینه پولیسو کې د اطمنان د له منځ تلو او د دوی په وړاندې د نارینه وو د منفي چلند د پیاوړي کیدو لامل ګرځي. په ټوله کې دا د ټولنې د پراخه ستونزو یوه برخه دی. د افغان ملي پولیسو نږدې له ۷۰ څخه تر ۸۰ سلنې پورې نالوستي دي. په داسې حال کې چې د نالوستیتوب کچه په ښځینه پولیسو کې له دې هم لوړه دی.

**زمونږ د ټولنې نیمایي برخه ښځې دي نو له همدې امله یواځې د نارینه پولیس لرل بسنه نه کوي. دا ناشونې دی چې د ښځینه پولیسو د نه شتون په صورت کې د ښځینه وو یا کورونو پلټنه وکوي، او یا په ځانګړی توګه هغه قضیې حل کړي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي پیښې رانغاړي.**

سمونوال سمسور، په کابل کې د پولیسو یوه قوماندانه.[۳]

تبعیضي حالت او د خبراوي ټیټه کچه هم دې ته اړتیا لري چې په پراخه عامه کچه له هغو سره مبارزه وشي. ډیری ښځینه پولیسې او بلقوه نوي ګمارل شوي د خپلو ټولنو له مخالفت سره مخامخ دي، هغه ټولنې چې ځینې وخت د افغانې میرمنې لپاره د پولیسی دنده رسوا کوونکې بولي. د معلوماتو اغیزمن کمپاینونه او حتی د تمثیلي ونډو د موډلونو (د بیلګې په توګه تلویزیوني ډرامې) کولای شي مثبت بدلون رامنځ ته کړي.

## د حل لارو لومړیتوب

د دې لپاره چې دغه ننګونې په ښه شي افغان دولت، د مرسته کوونکو په ملاتړ باید لومړیتوب ورکړي او یوه مناسبه، تمویل شوې او همغږ شوې ستراتژي پلې کړي ترڅو زیات شمیر ښځینه پولیسې وګماري او هغو ته د ښې روزنې زمینه برابره کړي. دوی همدارنګه اړتیا لري چې ترڅو د دې د ډاډمن کولو له لارې چې دوی له ازار او اذیت څخه خوندي دي، درناوی یې کیږي او د دندې د ترسره کولو په موخه اړینې اسانتیاوې ورته چمتو شوي دي، د خوندي توب کچه زیاته کړي.

دا ښایي د ښو تحصیل کړیو میرمنو د راجذبولو او ګمارلو په موخه هڅه راونغاړي، په ځانګړې توګه د وړتیا په بنسټ د پرمختګ او په ګرندۍ توګه د برنامو د څارنې د وړاندې کولو، د ډاډمن کولو له لارې له پوهنتون څخه فارغه شوې میرمنې.

یوځل باید روزل شوې ښځینه پولیسې د پولیسی په مسلکي دندو

وګمارل شي په ځانګړې توګه، د کورني غبرګون په واحدونو او د ټولنې په پولیسي دندو کې. په ورته وخت کې، نارینه پولیس باید د جندر په هکله اغیزمنې روزنې او له قوانینو سره په تړاو کی غوره پوهاوي ترلاسه کړي، په ځانګړې توګه هغه پوهاوي چې د ازار او اذیت په وړاندې د میرمنو د خوندي کولو په موخه ډیزاین شوي دي.

د هرې ستونزې په طبیعت پوهاوی، د حل لارو پلي کول او د پرمختګ د کچې اندازه کول په حقیقت کې له کافي معلوماتو پرته ناشونې دی. ملګري ملتونه په ځانګړې توګه مهمه ونډه لري ترڅو چې د جنسیت د بیلولو په هکله د معلوماتو په راټولولو او د هغو په کارولو کې یې ولوبوي. دا به همدارنګه له مرستندویانو سره مرسته وکړي چې د موضوع او د خپلو مرستو د اغیزمنتوب څارنه وکړي.

ګڼ شمیر فرصتونه شتون لري چې د دغو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. د بیلګې په توګه، افغان دولت او نړیوالو مرستندویانو داسې تدابیر په لاس کې نیولي دي چې د افغان ملي پولیسو نیمه فوځي فعالیتونه د قانون ترسره کوونکو ملکي ادارو ته ولیږدوي: په هیواد کی د پولیسو د سمون لومړنی لویه دوره. د لسو کلونو لید چې تر ۲۰۲۴ کال پورې په افغان ملي پولیسو او د کورنیو چارو په وزارت کې لس سلنې ته د ښځینه کاري ځواک د کچې د رسولو موخه رانغاړي – د اغیزمنو او مسؤولیت منونکو افغان ملي پولیسو د لرلو اوږد مهالي مقصد په لور یو ریښتینی او مناسب ګام دی.

په پولیسو کې د میرمنو د ونډې پیاوړي کول همدارنګه له افغانستان سره مرسته کوي چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۳۲۵ پریکړې د پلي کولو په برخه کې خپل مسؤولیت پوره کړي. دا هڅه کوي چې د ښځو ونډه پیاوړې کړي او له منازعې څخه په را وروسته زمینو کې نفوذ وکړي او همدارنګه هغه تدابیر پیاوړي کړي چې د هغو په بشري حقوقو تأکید کوي – کوم چې ټول د عدل او پایښت لرونکې سولې په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي. د UNSCR 1325لپاره د افغانستان لومړنی د ملي فعالیت پلان داسې یو فرصت رامنځ ته کوي ترڅو ډاډمنه شي چې فعالیتونه په داسې توګه ډیزاین شوي دي چې د ښځو ونډه پرمختللې او د هغو په بشري حقوقو تأکید وکړي، لوړې کچې ته د هغو د اغیزمنتیا د رسولو له لارې د یو بل بشپړونکي دي.

د وزارتونو دغه موخه چې د افغان ملي فعالیت پلان (NAP)پلی کوي او اړونده تدابیر به د ملګرو ملتونو ملاتړ ته اړتیا ولري. نړیوال ماموریتونه لکه ناټو کولای شي چې مثبتې بیلګې یې برابر ې کړي. د بیلګې په توګه د ناټو د جندر د سلاکارانو په پاتې کیدلو سره ترڅو د هغو ادارو سره په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د افغان ملي کاري پلان‌لرونکي دي او د دې د ډاډمن کولو له لارې چې د روزنې او څارنې پروګرامونه د جندر له اړخه حساس دي.

## څوک ګټه اخلي؟

ولې دغه موضوع په داسې یوه هیواد کې چې له ګڼ شمیر اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي ننګوونو سره مخامخ دی. د افغانستان خلک، د هغه بنسټونه ، د هغه پایښت او امنیت او همدارنګه مرستندویان چې هڅه کوي ترڅو د خپلو مرستو اغیزمنتوب لوړې کچې ته ورسوي، ټول په بلقوه توګه د یوه ځواب ویونکي او حساب ورکوونکي افغان ملي پولیسو د ځواک د یوې برخې په توګه له یوې ډیرې اغیزمنې ښځینه پولیسي څخه ګټه اخلي.

احتمالي اغیزه په میرمنو او انجونو باندې روښانه دی. اګر که افغانستان داسې اساسي قانون او نور قوانین لري چې د ښځو د بشري حقوقو ساتنه کوي، خو دغه حقوق په بشپړه توګه تأید شوي نه دي. د افغان ملي پولیسو یو ډیر ملګری او ښځینه ځواک به د عدالت رسمي سیستم ته د ښځو لاس رسی زیات کړي او همدارنګه به د ځینو قوانینو له پلي کولو سره مرسته وکړي، د بیلګې په توګه د افغانو ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د لرې کولو د ۲۰۰۹ کال تاریخي قانون، کوم چې د ماشومانو ودونه، په زور ودونه، ناموسي تیری او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي نور عملونه جرم بولي.

په بریالی توګه د دغې موضوع لرې کولو پراخه بلقوه مثبتې اغیزې لرلې. لکه څرنګه چې ملګرومللتونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د ۲۰۱۲ کال په راپور کې یادوونه وکړه: ؛ بلاخره، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د راکمولو د قانون په پلي کولو کې پرمختګ او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو وړاندې راکمول کولای شي د افغانو میرمنو د حقوقو د ساتلو په برخه، په خپل ورا سره په ټولنه کې د هغو د مهمې ونډې د پیاوړلي کولو او په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې او روښتیا د رامنځ ته کولو په موخه د هڅو په برخه کې، مرسته وکړي.

افغان ملي پولیس، کوم چې په پراخه کچه بې اعتماده دي، به هم د یوه بنسټ په توګه ګټه پورته کړي. په ۲۰۱۲ کال کې د ملګرو ملتونو یوې سروې وموندله چې، په عامه کچه د افغان ښځینه پولیسي د ونډې منل، په ټوله کې له افغان ملي پولیسو څخه د عامه برداشت په ښه کیدو مرسته کوي.[4]

ښځیه پولیسي همدارنګه کولای شي چې له افغان امنیت سره مرسته وکړي. ځینې یې لا له ګمارل شوي دي ترڅو په چک پوستونو او دولتي ودانیو ته له ننه کیدو وړاندې د میرمنو پلټنه وکړي، او همدارنګه د کورنو په پلټنه کې برخه واخلي. په ۲۰۱۲ کال لږ ترلږه ۱۳ داسې پیښې وې په کومو کې چې نارینه وو خپل ځانونه د ښځو په شان جوړ کړي وه ترڅو د توکو قاچاق وکړي، او یا داسې سیمو ته ننه شي چې له هغه ځایه وکولای شي حملې ترسره کړي. دا

زیاتو ښځینه پولیسو ګمارل کیدای شي د دغسې پیښو په راکمولو کې مرسته وکړي.

د ۲۰۱۴ کال د تمې وړ ولس مشریزو ټاکنو سره په تړاو کې، د کومو لپاره چې د کورنیو چارو وزارت به د امنیت مسؤولیت په غاړه ولري، د ښځینه پولیسو اړتیا دی ترڅو د رایې ورکولو په مرکز کې د ښځینه رایه ورکوونکو څارنه وکړي ترڅو له ښځو سره د هغو د رایې ورکولو د حق په پوره کیدو کې مرسته وکړي - بیا مرسته وکړي ترڅو ایالتي عامه ملاتړ پیاوړی شي.

اګر که بنسټیزه سموونه او نور اړین بدلونونه به وخت ونیسي، خو د عمل کولو وخت اوس دی. افغان ملي ځواکونو ته د هیواد په لر او بر کې د امنیتي چارو سپارل یوه داسې دنده دی چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه به بشپړه شي. دا او د ناټو د جګړه ایز ځواک ویستل دواړه ایساف (ISAF)دي ته اړ باسي ترڅو د افغانستان د پرمختګ او امنیت لپاره نوي ننګووني او ګواښونه په پام کې ونیسي.

دا له دې امله مهمه دی چې افغاني اداري، مرستندویان، او همدارنګه دولتونه او نړیوال ماموریتونه چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواک په پرمختیا کې شکیل دي خپلې هڅې ګړندی کړي ترڅو د ښځو په وړاندې چې د نفوس نیمايي برخه جوړوي د افغان ملي پولیسو مسؤولیت منته زیاته او د ښځینه پولیسو ونډه پیاوړې کړي. په دغه چاره کې پاتې راتلل له یوې لسیزې څخه د زیات وخت سختې پرمختیایي لاس ته راوړنې له منځه وړي او ګواښوي یې، او په همدې توګه د ځان بسنې، روښتیا او پایښت لور ته د افغانستان خوځښت له خنډ سره مخامخ کوي.

د دغه راپور لپاره اکسفام له افغانو پولیسو افسرانو، ملکي کارکوونکو، د بشر د حقوقو او د ښځو د چارو له سازمانونو او نورو سیمه ایزو ټولنو سره مشوره وکړه، چې په ځانګړې توګه د ښځو د لید په اړه یادوونه کوي. له نړیوالو مرستندویانو او د امنیتي روزنو له افسرانو سره هم مرکه وشوه. دغه لاندې توصیې، د دغه راپور په پای کې له یو شمیر اضافي تفصیلاتو سره یوځای، بیلابیل څرګند شوي لیدونه په ګوته کوي.

## توصیې

### افغان دولت او نړیواله ټولنه باید:

- یوه ملي ستراتیژي رامنځ ته او پلي کړي ترڅو ښځینه پولیسې وګمارې او په خپلو دندو کې یې وساتي. دغه ستراتیژي چې ملي او نړیوالې هڅې به همغږې کوي، باید له روښانوکارې پلانونو سره مله وي او د بریالي کیدو لپاره باید د مرستندویانو د کافي مالي ملاتړ څخه برخمنه وي.
- د پولیسو د سمون په ټولو هڅو کې ښځینه پولیسو ته

لومړيتوب ورکړي. د مرستندویانو د کافي، او مختص شویو مالي مرستې په واسطه، د کورنیو چارو وزارت - د نړیوالو پولیسو د همغږۍ بورد کاري ګروپونه باید د پولیسو د عمومي منل شوي سمون په لور ځانګړي پلانونه رامنځ ته کړي ترڅو میرمنې وګمارل شي او د هغو رول زیات شي. کاري ګروپونه باید په خپل ترکیب کې د ښځو چارو له وزارت څخه د جندر متخصصین، د جندر-حساسو پولیسي چارو کارپوهان، لوړ پوړې ښځینه افغان پولیسي او مدنيټولنه‌ځای ولري.

- مسلکي روزنو او فرصتونو ته د ښځو یو شان لاس رسی ډاډمن کړي، او د حقوقو او جندر په اړه بهتري روزنې ټول پرسونل ته ورسو ي. افغان دولت او نړیوال ماموریتونه باید د ښځینه پولیسو لپاره مسلکي کورسونه او فرصتونه زیات کړي ( د موټر چلوونې او عدلي موضوعګانو په اړه د ځانګړو روزنو په ګډون)، د ښځو لپاره د سواد ټولګیو ته لومړیتوب ورکړي، او ډاډمن کړ ي چې ټول افغان ملي پولیس د جندر په کوریکولم یا نصاب او د ښځو په ملي او نړیوالو حقوقو باندې پوهیږي (د ښځو پ ر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون په ګډون).
- د افغانستان لپاره د یو پیاوړي او اغیزمن ملي کارې پلان رامنځ ته کیدل ډاډمن کړي ترڅو د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک(UNSCR 1325) پلې کړي. د افغانستان دولت باید د مرستندویانو له لوري په یوه کافي کچه تمویل شوي ملي کارې پلان کې روښانه او مرتبطشاخصونه ولري چې په پولیسو او په پراخه کچه په امنیتي سکتور کې د ښځو له ونډې سره تړاو ولري راونغاړي، په ځانګړې توګه د پریکړې کولو یا تصمیم نیولو په کچه کې.

## د افغانستان د کورنیو چارو وزارت باید:

- د معلوماتو او ګمارلو یو پراخه کمپاین رامنځته او پل ی کړي، ګمارنه باید هغو نویو ګمارل شویو میرمنو ته چی زده کړې یې نه دي کړي د روزنې او زده کړې فرصتونه برابر کړي او هغو میرمنو ته چې زده کړې لري لوړې دندې وړاندې کړي، ګمارنه باید ټولنې ته د ښځینه پولیسو د ګټ و په اړه د عامه معلوماتو له کمپاین سره مله وي.
- د ښځینه پولیس و لپاره یو خوندي کارې چاپریال رامنځته کړي. د کورنیو چارو وزارت باید بیړني ګامونه پورته کړي ترڅو اړینې اسانتیاوې چمتو کړي (د بیلګې په توګه قلف کیدونکي تشنابونه او د جامو د بدلولو خونې)، دا ډاډمن کړي چې ښځې د شکایتونو یو مصئون اغیزمن میکانیزم باندې هم خبري او هم ورته لاسرسی لري ، لوړ رتبه ښځینه پولیسو افسرانو ته د شخصي ساتونکو چمتو کول په پام کې ونیسی، او ډاډمن کړ ئ چې په ټولو ولسوالیو او ولایاتو کې میشت پولیس له اړونده پالیسیو څخه خبر دي( د بیلګې په توګه د جنسی ځورونې په اړه د ۲۰۱۳ کال لارښود).

- ډاډمنه کړي چې ملي پالیسیګانې په سیمه ایزه کچه پلې کیږي. د مشرتابه کمیټې تر څارنې لاندې ، د کورنیو چارو وزارت باید ډاډمنه کړي چې پالیسیګانې یې د جنسیت (جندر) حساسو ملي او نړیوالو معیارونو سره په سمون کې دي، او د ملي پالیسیو د پلي کولو لپاره چې په سیمه ایزه کچه د ښځینه پولیسو ملاتړ کوي، هڅې زیاتې کړ ي، د پولیسو ولایتي رئیسانو ته د کورنیو چارو د وزارت د لارښوونو صادرولو په ګډون.
- تشکیل بیا اصلاح (ریفورم) کړي. په سمونونو یا اصلاحاتوکې باید د ګمارنې لپاره روښانه پالیسیګانې او د دندو ځانګړې لایحې، د ښځو لپاره د زیاتو پوستونو په پام کې نیول ( د لوړو پوستونو په ګډون)، او د نورو ادارو ا واحدونو مشخص کول شامل وي چې ښځې په کې کار کولی شي – د کورني غبرګون واحدونه (FRUs)، د ګمارنې، د څارګرې، د پاسپورت ریاست، د جنایي څیړنو ریاست او د مخدره توکو په خلاف د مبارزې د ادارو په ګډون . د ګمارنې او بیا کتنې ناپیلي بوردونه چې نارینه، ښځینه او د مدني ټولنې استازي په کې ګډون ولري، باید رامنځ ته شي.
- ډاډمنه کړي چې ښځې د دنده ایز پرمختګ مناسبو فرصتونو ته لاس رسی لري. د کورنیو چارو وزارت باید د پولیسو ولایتې افسرانو ته یو لړ اهداف وټاکې چې میرمن ې د بریدملان او افسری په کچه پوستونو ته ترفیع وکړي – د دې ډاډمن کول چې پرمختګ یا ترفیع د وړتیاو په بنسټ ده په داسې حال کې چې‌ځانګړې ننګوونې‌ته چې ښځې ورسره مخامخ دي ، هم په نظر کې نیول کیږي (لکه د سواد ټیټه کچه) - او د مجربو بهرنیو ښځینه پولیسو له لوري د مشرتابه په اړه د روزنو او څارنو ترڅنګ د ګړندي پرمختګ تدابیر رامنځ ته کړي.
- په ګړندۍ توګه په ولایتي کچه د ښځینه پولیسو شمیره زیاته کړي. د کورنیو چارو وزارت باید تحصیل کړې او روزل شوې ښځینه پولیسې په ولایتي پوستونو وګماري او هغوی ته ځینې تشویقي اسانتیاوي برابري کړي تر څو چ ې هلته پاتې شي ، د FRUs او د ټولنې د پولیسۍ په څیر ځانګړو شویو واحدونو ته د دغه ډوول کارکوونکو ځانګړي کولو او همدارنګه د دغو واحدونو نالوستو غړو ته د روزنو زیاتولو ته لومړیتوب ورکړی.

## د پولیسو ولایتي رئیسان (قومندانان) باید:

- ښځینه پولیسو ته فعال ملاتړ رامنځ ته کړي. د پولیسو ولایتي رئیسان باید خپل ټول پرسونل ته لارښوونه وکړي چې هیڅ ډول جنسي ناوړه ګټه اخستنه او ځورونه د زغملو وړ نه ده، ډاډمن کړ ي چې شکایتونه په رڼه توګه تر څیړنې لاندې نیول کیږي او ځوروونکي او اذیت کوونکي په روښانه توګه مجازات کیږي، او همدارنګه دا هم ډاډمن کړ ي چې ښځینه پولیسې مناسبو وسایلو، شخصي ترانسپورت، د ښځو لپاره بیل ځای او د ماشومانو د پالنې ځای ته لاس رسی ولري.

- په دې موخه هڅې زیاتې کړي چې ښځینه پولیسې په ټولنو کې وګمارل شي. ښځینه پولسې باید امنیتي حوزو کې په ګروپي شکل چې د غړو شمیر یې له پنځو څخه لږ نه وي ، وګمارل شي چې هم دوی د ازار او اذیت په وړاندې وساتي او هم دوی وتوانیږي چې په اغیزمنه توګه ټولنو ته لاس رسی ولري. د پولیسو مشران باید همدارنګه دا هم ډاډمن کړي چې ښځینه پولیسې په اغیزمنه توګه خپلې مسلکي دندې پ ر مخ یوسي، په ځانګړې توګه په FRUs او ټولنو کې.
- د کورني غبرګون واحدونه پیاوړي کړي. د پولیسو مشران کولای شي چې دغه چاره له دې لارې ډاډمنه کړي چې FRUs تل روزل شوې او لوستې ښځینه پولیسې په خپل جوړښت کې ولر ي، د شر عیاتو د پوهنځي فارغین د حقوقي سلاکارو په توګه وګمارل شي ، او چیرته چې شونې وي د ښځو تر مشرتابه لاندې واحدونو ځای پرځای شي. FRUs شایې هغه ځای د دفتر په توګه وکاروي چې په دې موخه د مرستندویانو له لوري چمتو شوی، او یا شایې چې د پولیسو د دفتر یو ځانګړی ځای ورکړل شي (چې د ننوتلو لاره یې بیله وي)، او همدارنګه ترانسپورت ته له لاس رسي سره چې وکولای شي ټولنو ته په خدمت کې د FRU له کارکوونکو سره مرسته وکړي.

## ټول هغه دولتونه چې د افغان ملي پولیسو ملاتړ کوي باید:

- د ښځینه پولیسو د ګمارلو، په دنده کې د ساتلو او پرمختګ په موخه ځانګړې بسپنه تخصیص کړي. لومړیتوبونه باید د لیک لوست د پرمختللي کولو لپاره ملاتړ، د ټولني پولیسي، لیواله کوونکي ګامونه (لکه اضافي امتیازات، د کورنۍ د روغتیا پالنې پلان او کور ورکول)، د ښځینه وو لپاره د بیلو اسانتیاوو، د ښځینه پولیسو د ټولنو په څیر اړینې زیربناوې، او د لوړ پوړو ښځینه پولیسو افسرانو په ځانګړې توګه د ولایتي پولیسو مشرانو لپاره روزنې او څارنې ، راونغاړي.
- د حالاتو په بنسټ امنیتي تمویل یا بسپنه برابر ه کړي. مرستندویان باید افغان ملي امنیتي ځواکونو سره اوږد مهاله ملاتړ او مرسته وکړي - په ځانګړې توګه هغه مهال چې افغانان په ۲۰۱۴ کال کې د ټول افغانستان امنیتي مسؤلیت په غاړهاخلي- او هم نړیواله ټولنه خپله کومکونه د ښځینه پولیسو د ګمارنې او مسلکي پرمختګ د شاخصونو پورې وتړي.مرستندویان باید همدارنګه په تشکیل کې د ښځینه پولیسو د پوستونو لپاره ځانګړې بسپنه تخصیص کړي او له ۲۰۱۵ کال لپاره د وړاندیز شویو قطع شویو پیسو څخه یې تړې وساتي.
- د مدني ټولنو د نوښتونو لپاره اوږد مهال ه اړینه بسپن ه برابره کړي . بسپنه باید د هغو ګروپون و لپاره اولویت بندي شي چې د ښځینه پولیسو د ملاتړ په برخه کې کار کوي، د هغو هڅو په ګډون چې په ټولنه کې د دې اصل منل زیاتوي،نارینه او ښځینه اتلان او الګوګانې رامنځ ته کوي

او د افغانو ښځینه پولیسو ټولنې له نورو نړیوالو ښکیلو لورو (لکه د ښځینه پولیسو د نړیوالې ټولنې او په مسلمانو هیوادونو کې له ورته نورو ګروپونو) سره نښلوي.

- په افغان ملي پولیسو کې د خپلواکې څارنې ملاتړ وکړي. مرستندویان باید په کافی کچه د پولیسو د شکایاتو د اوریدو دفتر تمویل کړي ترڅو ډاډمنه شي چې ښځې کولای شي اغیزمن او ناپیلي د شکایتو میکانیزم ته لاس رسی ومومي. دا باید په ملي کچه د لومړي توب درلودونکي موضوع په توګه په پام کې ونیول شي ترڅو په ولایتي کچه لاس رسی ډاډمن کړي.
- ډاډمن کړي چې د پولیسو ټولې نړیوالې روزنې او څارنې د جندر له اړخه حساسې دي. د څواکونو مرسته کوونکي هیوادونه باید له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته دISAF په ماموریت کې د جندر په برخه کې سلاکاران په په خپلو ځایونو پریږدي ترڅو د ناټو خپل د ۱۳۲۵ ملي کارې پلان پلي کیدل شونې کړي، په داسې حال کې چې مرستندویان باید دا ډاډمن کړي چې د LOTFA نوی پړاو چی په ۲۰۱۴ کال کې پیل کیږي د مشرتابه په کمیټه کې د مدني ټولنې استازی په بر کې ونیسي.

## نړیوال د پولیسو ماموریتونه باید:

- د څارنې پروګرامو روان وساتي. د EUPOL او د یوناما د پولیسو د مشور تې د واحد په څیر ارګانونه باید د لوړ پوړو نارینه او ښځینه پولیسو افسرانو، په ځانګړې توګه د ولایتي پولیسو د مشرانو لپاره د کیفیت لرونکو ملکي مربیانو د چمتو کولو په موخه کار ته دوام ورکړي. د مربي ګری پروګرامونه باید هر هغه ځای ته چې شونې وي وغزول شي (او یا لږ تر لږه له ۲۰۱۴ کال وروسته په همدغه اوسنی کچه وساتل شي)، او له ګاونډیو هیوادونو او په بیلابیلو سیمو کې د پولیسو د مشرانو ترمنځ اړیکې رامنځ ته کړي. .
- د کورنیو چارو د وزارت د جندر او بشري حقوقو له واحدونو سره ملاتړ ته لومړیتوب ورکړي. د پولیسو نړیوال ماموریتونه باید دا ډاډمن کړي چې د جندر او د بشر د حقوقو د واحدونو د وړتیا لوړونې په موخه هڅې ، هم په کابل کې د کورنیو چارو وزارت او هم د ولایاتو په کچه، د پولیسو د سموونو په هڅو کې لومړیتوب لري. دا باید د جنس او عمر له مخې د معلوماتو د رامنځ ته کولو په ګډون، د معلوماتو د راټولولو د سیستمونو پیاوړي کول راونغاړي.

## ملګري ملتونه باید:

- د معلوماتو راټولول او کارل پرمختللي کړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموریت ، کله چې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته په هغو شاخصونو باندې دري میاشتنی راپور ورکوي، باید ،په افغان ملي پولیسو کې د ښځو پر ونډې د جامع راپور ورکوونې په ګډون د جنسیت په اساس د راپور را

ټولول او کارول ښه کړي.

- وزارتونو سره مرسته ډیره کړي. ملګرې ملتونه باید اړوندو وزارتونو ته په نښه شوی ملاتړ زیات کړي ترڅو د افغانستان د میرمنو لپاره د ملي کارې پلان او د ملګرو ملتونو د امنیت د شوری د ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک لپاره د راروان ملي کاري پلان د د پلیتابه سره مرسته وشي.

# ۱. پیژندګلوي

افغان دولت د نړیوالو بسپنه ورکونکو او د پولیسو د روزنیزو ماموریتونو په ملاتړ د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د میرمنو د تدریجي ګمارني او وندې له پرمختګونو څخه څارنه کړي. اما دا پرمختګ محدود وو، نن د افغان ملي پولیسو په سلو کې یوازې یوه سلنه ښځې جوړوي.[5]

ډیرې ښځینه پولیسي په پلازمینه او د ولایتونو په مرکزونو کې دنده ترسره کوي، چې د ګوتو په شمار یو څو یې په کلیوالي سیمو کې کار کوي.[۶] په همدې خاطر ده چې ډیرې افغان میرمنې ښایي د کومې ښځینه پولیسي سره هیڅکله هم مخامخ نه شي. دا چې ټولنیز رسوم ښځو ته دا ستونزمنوي چې د پولیسو له یو نارینه کارکونکي څخه مرسته وغواړي، د ښځو پر وړاندې د ناسم چلند راپورونه ډیر وختونه کم وړاندې کیږي.

د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون (AIHRC) د راپور له مخې په ۲۰۱۲ز کال کې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۶،۰۰۰ پیښې ثبت شوي دي چې د ۲۰۱۱ز کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښایي. خو دا شمیره لا د پټې سر دی. په حقیقت کې یوه څیړنه دا جوتوي چې د افغان میرمنو ۸۷ سلنه د فزیکي، جنسي یا روحي ناوړه چلندو د څه نا څه ډولونو څخه رنج وړي، چې په دې کې په زوره وادونه هم شامل دي چې ۶۲ سلنه یې د تاوتریخوالي او ناوړه چلند ګڼ ډولونه تجربه کړیدی.[۷]

که میرمنې د ناوړه چلند په وړاندې خبر هم ورکړي، د دوی قضیې ډیرې وختونه په درسته توګه نه ثبتیږي و سرغړونکي یې په ندرت سره د عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي. ملګرو ملتونو په ۲۰۱۲ز کال کې د افغانستان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو د قانون د تطبیق په اړه یو راپور خپور کړو چې په هغې کې راغلي وو چې د " غښتلیو ښځینه پولیسو کمښت" تر څو قضیې وڅیړي او همدارنګه د پولیسو په منځ کې له قانون څخه د پوهاوی د کچې کموالی هغه مهم فکتورونه دي چې افغان ملي پولیس پرې ونه توانیدل د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخه پرې ونیسي.[۸]

سربیره پردې، د بشر د حقوقو کمیسون پولیس خپله د ښځو پر وړاندې په بد چلند تورن کړي. د دوی د ۲۰۱۳ز کال په راپور کې معلومه شوه چې د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۳ز کلونو ترمنځ، نارینه پولیسو نږدې ۱۵ سلنه د غیرت وژنې یا جنسي تیرې ترسره کړي دي. دا لا نور هم ښځې بې جرئته کوي چې له پولیسو څخه د مرستې په لټه کې شي.[۹]

د ښځینه پولیسو د کمښت ستونزې په افغانستان کې د سولې او پرمختګ په هڅو هم اغیزه شیندلې ده. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلود قانون د تطبیق په اړه د ملګرو ملتونو په راپور کې راغې:

"د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو د قانون بالاخره تطبیق او د تاوتریخوالي پیښو کموالی کولی شي د ښځو له حقوقو څخه لا ښه ساتنه رامنځته کړي، چې په خپل وار سره د هغوی فعاله او مهمه ونډه په ټولنه کې او هم د دوامدارې سولې، امنیت او نیکمرغۍ هڅې غښتلي کوي."[۱۰]

د ملګرو ملتونو په ملاتړ په ۲۰۱۲ز کال کې یوه ترسره شوې سروې یا نظر پوښتنې وښوده چې ښځینه پولیسو شتون ته په ډېریدونکې توګه عامه منښته حاصله ده او دا دلیل راوړي چې دا کار په ټوله کې د افغان ملي پولیسو په اړه د عامه برداشت د ښه کیدو سره مرسته کوي.[۱۱] سروې دا وښوده چې ښځینه پولیسو باندې د هغوی د نارینه سارې په پرتله د یو جرم د منصفه حل په اړه ډېر باور کیده.

د سروې په لاسته راوړنو باندې د تبصرې په لړ کې، په افغانستان کې د اروپايې ټولنې د پولیسو د ماموریت مرستیال د ښځینه پولیسو د شمیر او د دولت څخه د ملاتړ د ښه کولو ترمنځ په اړیکه باندې ټینګار وکړ.

"د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ډېرو ښځینه پولیسو ګمارل کولی شي د نامتناسبې قوې له استعمال او د وګړو د شکایتونو په کمولو کې د یوې اغیزمنې وسیلې په توګه رامنځته شي. د ټولنې د پولیسۍ په نظر کې نیولو سره که د افغان ملي پولیسو په لیکو کې ښځینه پولیسې موجودې وي نو کولی شي د محلي خلکو سره اړیکې بهترې شي. دا په خپل وار سره د جرمونو سره د مبارزې او د پولیسو منلو سره مرسته کوي او په نهایت کې د دولت د حاکمیت سره مرسته کوي."[۱۲]

د دې مهمو پایلو سره سره، بیا هم د پولیسو د ریفورم یا سمون د هڅو په لړ کې د ښځینه پولیسو ګمارنه د یو لوی لومړیتوب په توګه حیثیت نه لري.[۱۳]

دغه نشریه د مهمو مشترکینو سره د مرکو په لړ کې په معلوماتو ولاړه دهچې په هغې کې نارینه او ښځینه پولیس، د اکسفام د پروګرام تجربه او شته څیړنې شاملې دي تر څو دا استدلال وشي چې دا د یوې فوري لومړیتوب په توګه وګڼل شي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ستونزو مخه باید په اغیزمنه توګه ونیول شي او هم د دې سره مرسته وشي چې افغان ملي پولیس باید د بلوا-ضد قوې څخه په یوې ملکي پولیسې خدمت باندې بدل شي.

دغه نشریه د هغو مهمو اقداماتو په هکله معلومات وړاندې کوي چې افغان دولت او تمویلونکو ادارو د ښځینه پولیسو د ګمارنې او د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د فعالو غړو په توګه د هغوی د شرایطو د ښه کولو لپاره ترسره کړیدي. دا د هغو خنډونو په اړه هم په تفصیل سره ذکر کوي چې ښځې یې په پولیسو کې د ورګډیدو او په دې دنده کې د پاتې کیدلو په اړه لري، او هم دا

څيړي چې څرنګه عامه ملاتړ د ښځينه پوليسو په اړه رامنځته کيدلی شي. دغه نشريه د ټولو ذيدخلو ارګانونو لپاره توصيې هم له ځان سره لري.

**۱صندوق: ولي افغان ميرمنې په بيړنې توګه ښځينه پوليسو ته اړتيا لري**

د ۴۷ کلنې سارمن رحيمي کيسه د دې يوه څرګنده بيلګه ده چې څرنګه ښځينه پوليسي کولی شي د افغان ميرمنو او انجونو په ژوند کې ستر بدلون راولي. هغه په مزارشريف کې د کورنې غبرګون د واحد د پوليسو افسره ده.

د ۲۰۱۲ز کال د می په مبايشت کې د جګړنې رحيمي سره هغه وخت له روغتون څخه اړيکه ونيول شوه چې ۱۶ کلنه نسيمه، چې د اوه مياشتو اميدواره هم وه، روغتون ته وروسته له هغې راوړل شويوه چې ۲۵ ميړه يې په بې رحمۍ وهلې ټکولي وه. د نسيمي ژبه نږدې ټوله غوڅه شويوه او دومره وهل شوي او ټکول شويوه چې کوچنی يې په بطن کې لمنځه ولاړو.
د هغې په کلي کې موجودو پوليسو لومړی د قضيې له څيړنې ډډه کوله او ټينګار يې پر دې وو چې نسيمه بايد خپله په نږدې حوزه کې د پيښې په اړه راپور ورکړي. دا د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د لمنځه وړلو د قانون له اړتياو څخه يوه ده چې کولی شي د هغو متضررينو په وړاندې په تبعيض منتج شي چې نه شي کولی، يا چمتو نه وي چې په خپل محل کې د جرم په اړه خبر ورکړي.

رحيمي له خپل مافوق قومندان څخه وغوښتل چې د سيمې پوليسو سره اړيکه ونيسي او ديته يې چمتو کړي چې د پيښې په اړه څيړنه وکړي. په پيل کې پوليسو وويل چې د نسيمي خاوند په ده لګيدلی د عمدي قتل او مرګونې بريد تورونه رد کړي، پوليسو دا هو وويل چې پرته له کوم ثبوت څخه، دوی نه شي کولی چې هغه بندي کړي.

رحيمي لا ناکامي نه وه منلي: هغې له روغتون څخه د نسيمي صحي راپور راواخسته او د نسيمي او پلار سره يې مرسته وکړه چې خپل کلي ته د خپل مړ ماشوم سره يو ځای ستانه شي. دا هغه وخت دی چې چاروکي بيا هم د ميړه د خلاصون په اړه مصمم دي، خو رحيمي چې د خپل مرکز د قومندان هوکړه هم ورسره وه، رسنيو ته مخه وکړه او د رسنيو د فشار په نتيجه کې پوليسو ميړه رسماً تورن کړ. بيا نوموړی خاوند په دري کاله بند باندي محکوم شو.

## ۲ صندوق: څوک، څوک دی

### افغان ملي پولیس (ANP)

د افغان ملي پولیسو شمیر ۱۵۷،۰۰۰ تنو ته رسیږي کوم چې په څلورو ښاخونو باندې ویشل کیږي: افغان یونیفورم شوي پولیس (AUP)، د افغان ملي عامه نظم د ساتلو پولیس ANCOP - د شورش-ضد عملیاتو تر ټولو مخکښه د پولیسو څانګه ده-، افغان سرحدي پولیس(ABP) ، او کریمنال تخنیک یا د جنایي څیړنو اداره (CID). افغان سیمه ایز پولیس (ALP)د افغان ملي پولیسو یو فرعي ښاخ دی. سیمه ایز پولیس لکه د ټولنې په کچه د وسلوال دفاعيې قوي په توګه کار کوي خو د پولیسو رسمي واکونه نه لري.

په ډیریدونکې توګه، افغان ملي پولیس د جلب و جذب د عمومي قومندانۍ او د روزنې د قومندانۍ له لیاري د پولیسو په ګمارنه او روزنه کې مخکښ رول لوبوي.

### د کورنیو چارو وزارت

د کورنیو چارو وزارت د جنرال مجتبی پتنګ په رهبری کې له افغان ملي پولیسو څخه دڅارنې مسولیت په غاړه لري.

د ۲۰۱۳ز کال د اپریل په میاشت کې، جنرال مجتبی پتنګ د وزارت لپاره د *لس کالو لرلید* څخه پرده پورته کړه. د دي هدف دا وو چې افغان ملي پولیس اصلاح (ریفورم) شي او په یوه (متحد، وړ و بااعتباره د پولیسو په ملکي خدمت) باندې بدل شي تر څو (د قانون حاکمیت پلی شي) او د بشر د حقوقو ساتنه وشي.

د دې پلان له مخې، تر ۲۰۲۴ز کال پوري باید د ټول افغان ملي پولیسو او کورنیو چارو وزارت د کارکونکو لږ تر لږه ۱۰ سلنه ښځې جوړي کړي، د کورنیو چارو وزارت ژمنه کړیوه چې داسي یوه ستراتیژي به رامنځته کوي چې د (ښځو ګمارنه، روزنه، د وړتیاوو لوړول او نوري چارې) به همغږي کړي، چې په دي کې د جنسي ځوروني او تاوتریخوالي په خلاف اقدامات هم شامل دي.

### نړیوالې اداري او ماموریتونه

د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ډیری روزنه په *افغانستان کې د ناټو د روزنیز ماموریت (NTM-A)*له خوا د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) تر چتر لاندي او د ملګرو ملتونو د امنیت د شوری په دستور، ترسره کیږي، چې د افغان ځواکونو په دي اداروکې افغان ملي پولیس هم شامل دي. په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت د غړیو هیوادونو د

روزنیزو ماموریتونو لکه برتانیه، المان او هالینډ او همدارنګه د غیر ناټو غړیو لکه استرالیا له خوا ملاتړ کیږي.

*د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي یا د اماني صندوق (LOTFA)*، چې په ۲۰۰۲ز کال کې رامنځته او د ملګرو ملتونو د اداري له خوا اداره کیږي، د تمویلونکو یا بسپنه ورکونکو هیوادونو لکه د امریکي متحده ایالاتو، برتانیې، المان، هالینډ، کاناډا او ایټالیې ته د افغان ملي پولیسو د تمویل لپاره اصلي میکانیزم جوړوي. له ۲۰۰۲ز کال څخه را پدیخوا، نړیوالې ټولنې د دې صندوق سره نږدې ۲.۹ ملیارده امریکایې ډالره مرسته کړې چې په دې کې د امریکي متحده آیالات له نورو مخکی دی.

په افغانستان کې د اروپایې ټولنې د پولیسو ماموریت (EUPOL) چې په ۲۰۰۷ز کال کې رامنځته شوی، د افغان ملي پولیسو، کورنیو چارو وزارت او څارنوالانو په روزلو او ورته پهمشوروورکولو باندې فوکس لري څکه چې د دوی له مهمو موخو څخه یوه هم داده چې جندر (جنسیت) او د بشر حقوق په کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو کې ور ګډ کړي. په یوپول کې ۳۵۰ نړیوال او ۲۰۰ محلي کارکونکې کار کوي چې د اروپایې ټولنې له ۲۴ غړیو هیوادونو او کانادا سره تړاو لري. د ۲۰۱۳ز کال په مې کې، په افغانستان کې د دوی ماموریت د ۱۰۸ ملیونه یورو بودیجې په درلودلو سره تر ۲۰۱۴ز کاله پوري وغځیده.

*د نړیوالو پولیسو د همغږۍ بورد (IPCB)*، چې په ۲۰۰۷ز کال کې رامنځته شوي د کورنیو چارو وزارت سره په دي کار کوي چې د خپلو *لسو کالو لرلید*لپاره دوه کلن تطبیقي پلان جوړ کړي. اما، دوی د ښځو په اړه کومه ځانګړي ستراتیژي یا په ښځو کوم فوکس نه لري.

**د کورني غبرګون واحدونه**

د کورني غبرګون واحدونه (FRUs) په ۲۰۰۶ز کال کې د ځانګړو دري کسیزه واحدونو په توګه د کورني تاوتریخوالي د مهار کولو لپاره رامنځته شول. د دوی هدف دا وو چې په لا اغیزمنه توګه د تاوتریخوالي له متضررینو څخه ملاتړ وکړي او همدارنګه د ښځینه پولیسو د حیثیت په لوړ بیولو کې هڅوی ته د تخصصی مسلکي رول د ورکولو له لیاري، مرسته وکړي

# ۲. پرمختګ

په افغان پولیسو کې د میرمنو برخه اخستنه په ۱۹۶۷ز کال کې پیل شوه، یاني د محمد ظاهر شاه د پاچاهی په دوره کې چې د افغانستان وروستی پاچا وو. کله چې په ۱۹۹۶ز کې طالبان واک ته ورسیدل، نو په پولیسو کې په ښځو باندې بندیز ولګیده.[۱۴]

افغان دولت بیلابیل ابتکارونه په لاره واچول تر څو ښځې د پولیسو لیکو ته وهڅوي، چې په نتیجه کې یې د ښځینه پولیسو په شمیر کې سوکه خو ټینګ زیاتوالی راغی. په ۲۰۰۵ز کال کې، د ۵۳۴۰۰ پولیسي ځواک له جملې څخه یوازې ۱۸۰ یې میرمنې وې (چې ۰،۳ سلنه جوړوي).[۱۵] په ۲۰۱۰ز کې، د ۱۱۲۰۰۰ پولیسي ځواک له جملې څخه ۹۲۹ تنه یې ښځې وې (چې ۰،۸ سلنه جوړوي).[۱۶] د ۲۰۱۳ز کال د جولای تر میاشتې پورې، د ښځینه پولیسو شمیر په ۱۵۷۰۰۰ کسیزه ځواک کې ۱۵۵۱ تنه وو.

د افغان ملي پولیسو په اوسنی تشکیل (سازماني جوړښت) کې د ښځینه ملکي کارکونکو او ښځینه پولیسي افسرانو لپاره ځانګړې ۳،۲۴۹ بستونه ساتل شویدي چې په دې کې ۸۲۱ د پولیسو د افسری بستونه او ۷۸۷ بریدملان (NCOs) بستونه، ۱۳۷۰ د ګزمې د افسرانو، ۱۰۱ اداري پرسونل او ۱۷۰ قراردادي کونکي شامل دي. د ۲۰۱۳ کال تر نیمایی پورې، ښځو یوازې ۱۵۰۶ بستونه اشغال کړې ول - چې له نیمایي څخه هم کم دي.[۱۷]

ځینې ښځینه پولیسي په کلیدو ساحو کې کار کوي، چې له جملې څخه ځینې یې په لوړو بستونو کار کوي لکه کریمنال تخنیک، د مخدره موادو سره د مبارزې اداره. سمونوال حکمت شاهي د کورنیو چارو وزارت د جندر او د بشر حقوقو د واحد دویمه ښځینه مشره ده. د ۲۰۱۳ز کال د جولای تر میاشتې پورې، دې اداري په ټولو ۳۴ ولایاتو کې ۴۶۳ کارکونکي درلودل چې ۱۱۲ یې ښځینه پولیسي وې.[۱۸] د افغان ملي پولیسو تر مشرۍ لاندې، ۱۱ سمونوالانې او دوه جنرالاني موجودې دي (که څه هم د څه دپاسه ۱۶۰ نارینه جنرالانو سره پرتله کیږي).[۱۹] هڅې شوي چې د کورني غبرګون په واحدونو کې د ځانګړې رول په ورکولو سره ښځینه پولیس غښتلې کړی شي (۹ صندوق وګورئ).

یوه وروستی څیړنه چې په پنځو کلیدي ولایتونو - هرات، کندز، بلخ، ننګرهار او کابل- کې ترسره شوي،جوته کړې چې ښځینه پولیس په ډیریدونکي توګه د ټولنې د منلو وړ ګرځي، په خاصه توګه د قومي مشرانو په منځ کې ځوک چې په خپلو ټولنو کې د دې کار په ګټه پوهیږي. په څیړنه کې دا هم راغلې چې ښځینه پولیسو په ټوله کې د افغان ملي پولیسو اغیزمنتیا او ټولنه کې د هغوی قبلول پسې لا نور ښه کړیدي.[۲۰]

## ۳ صندوق: ښځینه پولیس د خپلې دندې په ترسره کولو کې

۲۸ کلنه پري ګل چې د دري ماشومانو مور هم ده، له تیرو پنځو کالو راهیسي د کابل په ختیځ کې په نهمه امنیتي حوزه کې د ګزمي دنده ترسره کوي. د هغې ډیر وخت عامه تاسیساتو ته د ننوتونکو ښځینه مراجعینو په تالاشي کولو کې تیریږي، خو غواړي په نورو دندو کې هم ځان ثابت کړي. هغه وایې: "زه په خپل کار ویاړ لرم خو زه غواړم د هغو ښځو سره مرسته وکړم چې د تاوتریخوالي ښکار شویدي."

پري ګل ځان ډیر خوش نصیبه ګڼي چې د خپل نارینه آمر، سمونوال سمسور او خپل خاوند ملاتړ ورسره دی. په یوه مردسالاره ټولنه کې، هغه بې خطره خپل کار ته ځې ځکه سمونوال سمسور هغو اوه ښځینه پولیسو ته چې د ده د آمریت لاندې کار کوي، د خپل شخصي تیلیفون شمیره ورکړي تر څو د هرې هغې ستونزي په اړه ده ته راپور ورکړي چې دې ښځینه کارکونکو ته د هغوی د نارینه سیالانو له خوا پیښیږي.

سمونوال سمسور چې د حوزي قومندان یا آمر دی، له ۳۱ کالو راهیسي پولیس دی او اوسمهال د بشر د حقوقو په څانګه کې د دکتورا لپاره په خپلو زده کړو هم بوخت دی. هغه وایې چې ده ته دا حتی ناشوني ده چې د کافي ښځینه پولیسو پرته خپله دنده په اغیزمنه توګه پرمخ ویسي.

" دا یوه لویه ننګونه ده چې د دوی شمیري لوړي شي، " هغه وویل. "له ټولو مهمو کړنو یوه دا ده چې ښځینه پولیسي ځانونه د پولیسو په حوزو کې خوندي وګڼي. که یوه ښځینه پولیسه نورو میرمنو ته ووایې چې ' حوزه مصئونه ده، زه خوښه یم او هغوی زما او زما د کار درناوی کوي' بیا نو هغه کولی شي چې نورې میرمنې هم دي کار ته وهڅوي".

د هغه په نظر افغان میرمنو ته باید ځینې تشویقي امتیازات ورکړل شي تر څو هغوی راشي او د افغان ملي پولیسو د لیکو سره یو ځای شي: مونږ باید په افغاني ټولنه کې ښځو ته په ځینو استثنا أتو قایل شو. ښځینه پولیسي باید د شپې په جریان کې له دندي کولو مستثنی وګڼل شي ځکه چې د هغوی کورنۍ دا نه خوښوي - که د شپې له خوا هغوی له کوره بهر وي، نو دي ډول ښځو ته د بدو ښځو په توګه کتل کیږي.

" زه خپلو ښځینه پولیسو ته دا نه وایم چې له حوزي دباندې دي هم یونیفورم واغوندي ځکه هغوی له دي ویره لري چې خلک به د هغوی په لیدو څه ووایې یا فکر وکړي. او کله چې ښځه او سړی چې د یو قسم سواد درلودونکې وي، د یو کاري فرصت لپاره هڅه کوي، نو باید چې میرمنو ته ارجحیت ورکړل شي.تر

اوسه پوري ما ته نارینه و د دي کار په وړاندي هیڅ ډول شکایت نه دی کړي. او که یي وکړو، نو باید ورته وواېم چې له زغم څخه کار واخلي. زمونږ په ټولنه کې میرمني له بیلابیلو ستونزو سره مخامخ دي او مونږ د میرمنو د مراقبت لپاره ښځینه پولیسو ته ضرورت لرو. دا کار به بالاخره خپله د هغوی سره هم مرسته وکړي".

خو پری ګل بیا هم له ستونزو سره مخامخ ده. " کله چې ما د پولیسو دنده خپله کړه نو زما ترونو ما سره خبري کول بند کړل. مونږ پښتانه یو او هغوی دا نه خوښوي چې زه یو ځای د پردو نارینه و سره کار وکړم. که ما سره نورو ښځینه پولیسو هم کار کولی، نو کیدلی شي چې د هغوی (ترونو) ذهنیت هم بدل شي.

مونږ په حوزه کې هم لا ډیري ستونزي لرو. د ښځو لپاره ځانګړي شوي تشنابونه، یا د خوب ځای، یا د استراحت ځای چې له نارینه و څخه بیل وي، نشته. په افغاني کلتور کې دا زمونږ لپاره یوه ستونزه ده. ځینې میرمني دا اندیښنه لري چې که دوی تشناب ته ولاړي شي، نو د نارینه همکارانو له خوا به په دوی برید وشي. زه خو به چیغي ووهم او د ځان دفاع به وکړو، خو هر څوک دا نه شي کولی."

**۱جدول د ۲۰۱۳ز کال له فبروری څخه د ښځینه پولیسو شمیر، د هغوی موقعیت او رتبې**

| ولایت | افسر | بریدملان (NCO) | د ګزمي ښځي | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| کابل | ۱۵۴ | ۲۹۸ | ۲۳۶ | ۶۸۸ |
| ننګرهار | ۰ | ۱۲ | ۲۳ | ۳۵ |
| پروان | ۰ | ۳ | ۵ | ۸ |
| کاپیسا | ۰ | ۰ | ۵ | ۵ |
| پنجشیر | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| کنړ | ۰ | ۱ | ۱ | ۲ |
| لغمان | ۰ | ۱ | ۳ | ۴ |
| نورستان | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| بامیان | ۷ | ۱۰ | ۱ | ۱۸ |
| دای کندي | ۹ | ۵ | ۱۵ | ۲۹ |
| بلخ | ۷ | ۵۴ | ۵۸ | ۱۱۹ |
| کندوز | ۳ | ۸ | ۲۲ | ۳۳ |
| بدخشان | ۲ | ۱۲ | ۱۰ | ۲۴ |
| تخار | ۳ | ۱۴ | ۱۳ | ۳۰ |
| جوزجان | ۲ | ۵ | ۱۱ | ۱۸ |
| فاریاب | ۳ | ۱۵ | ۱۷ | ۳۵ |
| بغلان | ۴ | ۷ | ۰ | ۱۱ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سمنګان | ۰ | ۵ | ۱۱ | ۱۶ |
| سرې پل | ۱ | ۱۰ | ۲۱ | ۳۲ |
| کندهار | ۹ | ۹ | ۳۴ | ۵۲ |
| ارزګان | ۰ | ۹ | ۱۳ | ۲۲ |
| زابل | ۰ | ۰ | ۶ | ۶ |
| پکتیکا | ۰ | ۰ | ۱۳ | ۱۳ |
| غزني | ۰ | ۶ | ۱۲ | ۱۸ |
| پکتیا | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ |
| خوست | ۰ | ۰ | ۴ | ۴ |
| لوګر | ۰ | ۰ | ۲ | ۲ |
| وردک | ۰ | ۵ | ۵ | ۱۰ |
| هرات | ۱۲ | ۸۳ | ۴۱ | ۱۳۶ |
| فراه | ۱ | ۶ | ۲۱ | ۲۸ |
| بادغیس | ۱ | ۶ | ۷ | ۱۴ |
| غور | ۱ | ۱۱ | ۹ | ۲۱ |
| هلمند | ۵ | ۶ | ۱۹ | ۳۰ |
| نیمروز | ۱ | ۴ | ۲۰ | ۲۵ |
| مجموعه | ۲۲۶ | ۶۰۵ | ۶۵۸ | ۱۴۸۹ |

سرچینه: د کورنیو چارو وزارت سند، فبروری ۲۰۱۳

**۴ صندوق: څه نور هیوادونه هم د ښځینه پولیسو د ګمارنې په اړه د کشمکشونو سره مخامخ دي**

افغانستان یواځینی هیواد نه دی چې د پولیسي ملي ځواک په لیکو کې د میرمنو د ګمارلو په اړه د ستونزو سره مخامخ دی - خو په ډیرو نورو هیوادونو کې ټولنیز نورمونه د دې اجازه ورکوي چې میرمنې د پولیسو نارینه افسرانو ته په اسانی سره مراجعه وکړي. د پرنزلر Prenzler راپور لاندې معلومات لري:

**انګلستان او ویلز** ۲۵ سلنه (۲۰۰۹)

**ایرلینډ** ۲۳.۱ سلنه (۲۰۰۹)

**د امریکې متحده آیالات** ۱۱.۸ سلنه (۲۰۱۰)

**کاناډا** ۱۹.۶ سلنه (۲۰۱۱)

**استرالیا** ۲۴.۴ سلنه (۲۰۱۱)

**سویلي افریقا** ۲۳.۵ سلنه (۲۰۱۱)

**ګانا** ۱۹.۷ سلنه (۲۰۰۷)

**نایجیریا** ۱۲.۴ سلنه (۲۰۱۱)

**هندوستان** ۵.۱۷ سلنه (۲۰۱۰)

د ناروې د پولیسو اداره لاندې اعداد او شمیرې لري:

**ناروې** ۲۱ سلنه (۲۰۱۰)

د سویډن پولیس داسې احصاییه لري:

**سویډن** ۲۹ سلنه (کال یې مشخص نه دی)

# ۳. د بدلون راوستل

په دغه برخه کې هغه وروستنی اقدامات ذکر شوي چې په افغان ملي پولیسو کې د ښځو د حیثیت د ملاتړ لپاره ترسره شویدي. لاندنی فصل به د دي هڅو یوه ارزونه وکړي او هم به ننګوني په تفصیل سره بیاني کړي.

## افغان دولت

د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځینه پولیسو د شمیر د ډیرولو په اړه د یوي خوشحالونکي ژمنتیا ډاډ ورکړی. د کورنیو چارو وزارت د خپل مرستیال، مرزا محمد یارمند په مشری د رهبری یوه شوری رامنځته کړه چې په ۲۰۱۳ز کال کې د ښځینه پولیسو په اړه د یو ملي کنفرانس د دایرولو لپاره په عمده ټکو خبري اتري وکړي او ژمنه یې وکړه چې کاري ګروپونه به رامنځته کوي او هغوی به د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د لا ډیرو میرمنو ګمارلو او روزلو په اړه پلانونه جوړوي. خو دا ملي کنفرانس څو واري وځنډیده، چې د کورنیو چارو وزارت اوږد مهاله ژمنه یې تر پوښتني لاندي راوسته. سره له دي هم، د کورنیو چارو وزارت لاندني مهم اقدامات ترسره کړیدي:

### موخي

د *پولیسو ملي پلان* (۲۰۱۰)او *ستراتیژي* (۲۰۱۱)دا غوښتنه کوي چې د ۲۰۱۴ز کال تر پای پوري، د نږدي ۱۵۷۰۰۰ پولیسو څخه، ۵۰۰۰ یې باید ښځینه پولیسي وي (د ټول تعداد ۳ سلنه). د *لسو کالو لرلید* دي هم جیګه غوښتنه لري او غواړي چې تر ۲۰۲۴ کال پوري، د کورنیو چارو د وزارت کارکونکو او افغان ملي پولیسو نږدي ۱۰ سلنه ښځینه وي.[۲۱]

### روزنه

د پولیسو د روزني او آموزش ټول ۳۰ واړه مرکزونه اوس د افغانانو د قوماندي لاندي دي. تر ۲۰۱۴ز پوري به دا د ۱۳ په تعداد کې لا قوي شي. اوس مهال، پنځه مرکزونه د ښځو لپاره د روزني اسنتیاوي لري چې په هغې کې هرات، مزارشریف، کندوز، ننګرهار او کابل شامل دي. خو د دوی له جملي څخه صرف کابل کې د ښځینه زده کونکو لپاره لیلیه شتون لري چې د هغو میرمنو لپاره د پولیسو سره د یو ځای کیدو شونتیا برابروي چې له کابل څخه بیرون اوسیږي. په نورو ولایاتو کې ښځینه زده کونکي (آموزشکیر) هر ورځ خپلو کورونو ته د پولیسو په موټرو کې وړل کیږي.[۲۲]

د دي لپاره چې د ښځینه پولیسو په وړاندي د نارینه پولیسو روش او رفتار بدلون ومومي، د نارینه ګزمه پولیسو په کچه د اته میاشتنی لومړني چمتووالی په لړ کې د جندر او بشر حقوقو په

اړه دري ورځنۍ روزنه هم ورکول کيږي، چې نورې برخې يې د بريدملان(NCO) او افسرانو په کچه ورکول کيږي.

## تګ لارې (پاليسي ګانې)

افغان ملي پوليسو کې د ښځينه پوليسو د ځينو ستونزو په اړه د کورنيو چارو وزارت مثبت اقدامات ترسره کړيدي، په شمول د جنسي ځوروني، ناوړه چلند او همدارنګه د ښځو لپاره د ځانګړو ودانيو، په خاصه توګه د خصوصي ځايونو لکه د قلف کيدو وړ تشنابونو نشتوالی.

په دي اقداماتو کې د ښځينه و د ګمارني لارښود ( ۲۰۰۹)[۲۳]، د ۰۱۸ ځوروني لارښود (د فبروری ۱۶، ۲۰۱۳)[۲۴]، د جندر د ملي پاليسی مسوده (۲۰۱۳)[۲۵]، او د کورنيو چارو په وزارت او ټولنې په کچه د کوجنيانو او ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع پاليسي(۲۰۱۳)[۲۶]هم شامله ده.

د دي اسنادو له مخې ټول افغان ملي پوليس بايد د اسلامي شريعت د احکامو مطابق د ښځو د حقوقو په اړه روزنه وګوري تر څو د خپلو ښځينه همکارانو او ټولنه کې د ميرمنو په اړه د هغوی سلوک ښه شي، د ښځو لپاره د جامو بدلولو او تشنابونو ځانګړي کوټي برابري شي، د ماشوم د حفاظت اړونده اسانتياوي، د ښځينه پوليسو لپاره تعليم او روزنيزو فرصتونو ته د لاسرسی زميني برابري شي او همدارنګه هغه نارينه پوليس له دندي ګوښه او عدلي تعقيب لاندې ونيول شي کوم چې ښځې ځوروي.

د ځوروني د لارښود له جاري کيدو وروسته، د کورنيو چارو وزارت يو کميسون جوړ کړو چې په هغې کې د د دې وزارت د جندر او بشر حقوقو د واحد، د داخلي تفتيش رياست، کريمنال تخنيک رياست او د بشري سرچينو او پرسونل رياستونو استازي شامل وو، تر څو د ارتقا، استخدام او د معاشونو پر خپل وخت تاديې او اړونده موضوعګانې تنظيمي کړي .[۲۷]خو معلوميږي چې دا لارښودونه په ډيره کمه او نيمګړې توګه پلي کيږي.

## د کورني غبرګون واحدونه

د کورني غبرګون واحدونه په ۲۰۰۶ز کال کې د کورني تاوتريخوالي د بررسي او ښځينه پوليسو ته د افغان ملي پوليسو په ليکو کې د يو مناسب ځانګړی شوي رول ورکولو لپاره رامنځته شوي دي. د ۲۰۱۳ز کال د مې په مياشت کې، د هيواد په ۳۳ ولايتونو کې ۱۸۴ د کورني غبرګون واحدونه فعال ول چې ۳۵۴ پوليسو په کې کار کاوه چې له جملې يې ۲۴ ښځينه پوليسي وي. د ميرمنو د لږ شمير سره سره، ۱۱ واحدونه د ښځو تر رهبرئ لاندې دي.[۲۸]

## د ګمارنې لپاره کمپاينونه

په ۲۰۱۰ز کال کې، د کورنيو چارو وزارت او LOTFA د جاپان، هالينډ او سويس حکومتونو په مالي مرسته، يو کمپاين په لاره واچولو چې ډيرې ښځې پوليسو ته جذب کړي. د دوی د کمپاين زياته

توجه د ګڼو رسنیو او همدارنګه د رهبری، مدیریت او معلوماتي ټکنالوجي په اړه میرمنو ته د ځانګړی شویو روزنو له طریقه وه.[۲۹]

## بسپنه ورکونکې

نړیوال بسپنه ورکونکې، افغان ملي امنیتي ځواکونه تمویلوي، روزي او تجهیزوي. سربیره پر دي، دوی یو تعداد ځانګړینوښتونه هم تمویل کړي چې د ښځینه پولیسو د حیثیت په ښه کولو کې یې مرسته کړې، چې په دي کې د ټولنې پولیسي، د ښځینه پولیسو اتحادیې، الګو یا سرمشقو ته ترویج ورکول او د پولیسو په اړه د شکایاتو د اوریدلو دفتر شامل دي.

### د ټولنې پولیسي

ځینې تمویلونکو ادارو لکه متحده آیالاتو، المان، هالینډ او همدارنګه LOTFA او یوپول په دا وروستیو کېډ ټولنو د پولیسی بیلابیلي پروژې په ځینو ولایتونو لکه کندهار، کندز، ارزګان، بغلان، غور، هلمند او پکتیا کې تمویل کړیدي[۳۰]. د دا ډول پروژو تمرکز په همدي وي چې د پولیسو او ټولنو ترمنځ تماسونه زیات شي تر څو اعتماد رامنځته شي، د بیلګې په توګه د ګاونډي د څار کمیټو، د ټولنې د مشورو، د پولیسو سره د ارتباط افسرانو، د پولیسو او ټولنې د سپورت ګډ ټیمونو په رامنځته کولو او همدارنګه ښوونځیو او پوهنتونونو ته ځانګړي د عامه پوهاوي پروګرامونو له لیارې.

د ټولنې پولیسي و پدیده ښځینه پولیسو ته د یو مسلکي پولیسي رول د ورکولو لپاره یو د ترټولو اغیزمنو لارو څخه ده، د بیلګې په توګه په ښوونځیو کې د حفاظت اړونده لارښوونو د وړاندې کولو له لیارې. دا کار میرمنو او ماشومانو ته د ټولنې ته د لاسرسی لا ډیر چانس ورکوي.

### د ښځینه پولیسو اتحادیې

په کابل، بغلان، تخار، بامیان، بدخشان، بلخ، هرات او دایکنډی ولایتونو کې د ښځینه پولیسو اتحادیې رامنځته شویدي. ځینې یې رسمي دي (که څه هم ضعیفي دي) لکه د ښځینه پولیسو شوری، خو نورې یې غیر رسمي دي. یوپول د کابل شوری ته ځینې د مربیتوب خدمات وړاندې کوي په داسي حال کې چې د افغان ښځو شبکه (چې د هالینډ حکومت له خوا تمویلیده) د بامیانو او مزارشریف شوری ګانو سره کار کوي.

دغسې اتحادیې د میرمنو د راټولیدو لپاره ښې مجمع جوړوي تر څو په خپلو ستونزو او اندیښنو باندې خبرې اترې وکړي ; د جنسي ځورونې، او د پولیسو په امنیتي حوزو کې د بیل ځای او د نارینه همکارانو له ناوړه سلوک څخه د ځان ساتنې د اړتیاو په ګډون. همدارنګه داسي اتحادیې د امنیه قومندانانو او حوزو د آمرینو لپاره د مدیریت یوه مفیده وسیله هم ده، ځکه چې

موضوعګانو او شکایتونو ته لومړیتوب ورکول له همدې ځایه په ګډه پیلیږي.

د یوناما د پولیسو د مشورتي واحد یو غړی، الکساندر کیجر وایي چې دا ډول ګروپونه بیا هم د پام وړ ملاتړ ته ضرورت لري. په بدخشان کې د ښځینه پولیسو شورى له یو کال راهیسې جوړه شویده، خو ډیره غیر فعاله وه تر څو چې د ملګرو ملتونو اداري د ولایتي پولیسو د قومندانانو سره د هغوی د ناستي زمینه برابره کړه.

" دوی په ګروپي شکل د خپلو ستونزو سره د هغه د لیدلو لپاره ورغلي. د دوه اونیو په ترڅ کې، دوی خپل بیل تشناب او دفتر پیدا کړو. د دوی د یونیفورم لګښت هغه له خپله جیبه ورکړ او د دوی د ټرانسپورټ غم یې هم وخوړو. دا میرمنې اوس وایې چې دوی ځان درون احساسوي او ورته په جدیت کتل کیږي. دوی دا کار خپله وکړ- صرف د لومړني قدم د پورته کولو لپاره یې مرستې ته اړتیا وه." [31]

## ۵ صندوق: د ښځینه پولیسو راتلونکی مخ



سبا سحر، د افغانستان لومړنی ښځینه کارګرداني (لاربشوده)، د *امان الله* *کمیسار* په نوم ۲۴ برخه لرونکې ډرامه کې چې د افغان پولیسي ځواک په اړه وه، هم مخکښ رول لوبولی او هم یې لاربشوده وه.

د ګاردین ورځپاڼي د سبا سحر کرکټر د" یوې زړورې، فساد نه منونکې ښځینه پولیسې، د انسانانو په نړۍ کې د ترهګرۍ سره د مبارزې په توګه یاد کړ" ځوک چې " لکه یوه لویه اتله وې، په خپلو عرفي جامو کې د کنګ فو د

جیګو لغتو وهلو جرکتونه کوي، ټپیان په خپله اوږه امن ځایونو ته وړي یا یو موټرسیکل چلوي په داسي حال کې چې لاسونه یې د ډزو په کولو مصروف وي."[32]

سحر چې په ۱۹۹۰ کلونو کې خپله د پولیسو په توګه روزل شوي، اوس هم د کابل د پولیسو سره پس له وخت نه کار کوي- هغې دې ورځپاڼې ته وویل: " زه غواړم خلکو ته وښایم چې افغان میرمني هر هغه څه کولی شي چې سړي یې کوي."

## الګو یا سرمشقونه تروېجول

تمویلونکو ادارو هغه پروګرامونه هم تمویل کړي چې د تلویزیون او رادیو له لیارې ښځینه پولیسي نوري هم لوړوي، د ۲۰۱۲ز کال د *امان الله کیسار* ډرامه چې د المان له خوا تمویل شویوه، د همدي لړی یوه هڅه ده (۵ صندوق وګورئ) او *ځلورم باز*، په ۲۰۱۰ز کې د متحده آیالاتو له خوا تمویل شوي ډرامه.[۳۳]

دا دوارړه ډرامي یو څه عجیبي په دي وي چې په دواړو کې ښځو د قوي او قطعي ښځینه پولیسو په توګه مخکښ نقشونه درلودل. د امان الله کمیسار په نوم ډرامه کې د واقعي د محل د تحقیق د برخي مشره، یوه ښځه وه چې همغه سبا سحر وه چې د ډرامي لارښوده هم وه. د ځلورم باز ډرامه د دي د دوه مخکښو کرکترونو، لوډمیلا او بکتاش ترمنځ د میني د یوې کیسي په اړه وه، په داسي حال کې چې یوه بله ښځینه کرکتره د کمپیوټر نابغه وه.[۳۴]

که څه هم د دي ښځو دا نقشونه افسانه ای او ساختګی وو، خو د افغان میرمنو او انجونو لپاره دوی د یوې مهمي الګو او سرمشق په توګه یادیدلی شي.

## د پولیسو په اړه د شکایاتو د اوریدلو دفتر

یوپول او نورو بسپنه ورکونکو ادارو د پولیسو په اړه د شکایاتو د اوریدلو دفتر د افغانستان د بشر د حقوقو په خپلواک کمیسون کېږد دبانډنی ځارني او شکایتونو د یوې اداري په توګه رامنځته کړه. په کابل کې د خپل مرکزي دفتر سربیره، اوس دا اداره په ننګرهار، بلخ او هرات ولایتونو کې ځانګې لري. په ۲۰۱۲ز کال کې، د بشر حقوقو کمیسون ته د پولیسو له خوا د ځوروني او جنسي تیري اړونده ۱۰۵ شکایتونه رسیدلي وو او همدارنګه د ښځینه پولیسو د ارتقا په اړه د ناسمو کړنو شکایتونه هم موجود وو.[۳۵] ویل کیږي چې د داسي پیښو په اړه راپور په لږه اندازه ورکول کیږي.

**۶ صندوق: د ځینو لویو تمویلونکو هیوادونو پرتله**

د امریکې متحده آیالات د افغان ملي امنیتي ځواکونو د تمویل، روزني او تجهیز له اړخه په سر کي قرار لري. د متحده آیالاتو حکومت د افغان ملي امنیتي ځواکونو په داخل کي د جندر اړوند موضوعګانو لپاره ارشد ملکي مشاورین ګمارلي دي او همدارنګه د FSU په ایجادولو کي یې مخکښ رول لوبولی دی. که څه هم د امریکې متحده آیالات د افغان ملي پولیسو د ملاتړ لپارهد پولیسو عملیاتي مربي او د ارتباط ډلګۍ لري، خو بیا هم د ښځینه مربیانو د کمښت سره مخامخ دي چې د ښځینه پولیسو سره د دوی د کار کولو وړتیا کموي. تر دا وروستیو پوري، د امریکې متحده آیالاتو هر کال د افغان امنیتي ځواکونو د صندوق لپاره د خپلو څو ملیاردي ډالرو مرستو په لړ کي د ښځینه پولیسو لپاره کومي ځانګړې د تمویل سرچینې نه درلودې. خو په ۲۰۱۲ز کال کې، د ملي دفاع د واک قانون د لومړی ځل لپاره په خپلو ستراتیژیکو نظامي لومړیتوبونو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو اړونده میرمني هم په بر کې ونیولي. د ۲۰۱۳ز کال د جون په میاشت کې، د ۲۰۱۴ دفاعي اختصاصی سند کي د وړاندیز شویو موران تعدیلونو له مخې دا حکم وکړ چې د ۷.8 ملیاردو ډالرو له جملي څخه ۴۷.3 ملیونه ډالره باید په افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو کي د میرمنو د ګمارني او په دي دنده کي د هغوی د ساتني لپاره جدا شي.

برتانیهLOTFA ته د کال نږدي ۸ ملیونه ډالره ورکوي. خو برتانیه د خپل نړیوال چلند په نظر کي نیولو سره ، د دي مقدار کومه برخه په ځانګړي توګه د ښځینه پولیسو لپاره نه ټاکي. همدارنګه دا هیواد د یوپول سره د ۱۶ بدیلو پولیسو افسرانو کومک کړي او همدارنګه د هلمند د ولایتي بیا رغوني ټیم په داخل کي د جندر یو اختصاصي افسر هم لري. برتانیه د هغو ۱۱ ملیونه امریکایي ډالرو د تمویل یوه برخه هم جوړوي چې د کورنیو چارو وزارت د ستراتیژیک ملاتړ لپاره کیږي تر څو د کورنیو چارو د وزارت د پالیسي اړوند او اداري وړتیاوي غښتلي کړي، د پولیس مردمي (ډیموکریټک پولیسنګ) د سکرتریت په ګډون.

په دي مسئله کي هالینډ تر ټولو مخکښ او یو له ډیرو کمو ګوتو په شمار تمویلونکو یا ډونرانو څخه دی، چې LOTFA ته د خپل کلنیز ۱۱ ملیونه ډالرو امداد له جملي څخه ۱ ملیون ډالر یې ښځینه پولیسو لپاره اختصاص کړي دي. د هالینډ حکومت په کندز کي د ۲۲ ملیونه یورو په مصرف د هالینډ د قانون د حاکمیت ماموریت هم تمویل کړی دی. دا هیواد د افغانستان د ډیموکراټیکو پولیسو دري کلنه پروژه د ۴.۵ ملیونه ډالرو په ارزښت لا هم تمویلوي چې په دي کي د ښځینه پولیسو د شوراګانو ملاتړ شامل دی، ښځو ته د موبایل ټیلیفونونو پواسطه د سواد د زده کړو ازمایښتي پروژه، او د ۲.۶ ملیونه ډالرو په ارزښت د یوپول له خوا پرمخ وړونکي د پولیسو (د ښځینه پولیسو په ګډون) او څارنوالانو د روزني پروګرام چې موخه یې د ښځو پر وړاندې د جرایمو د تحقیق او عدلي تعقیب ترمنځ د اړیکي ښه کول ده.

استرالیا اوسمهال په افغانستان کي د پولیسو ۲۸ افسران لري، چې

په دې کې د پولیسو هغه روزنکې هم شامل دي چې د جندر د موضوع په اړه تخصص لري او د یوپول سره موقتي کار کوي. د استرالیا حکومت د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د سمون ملاتړ کوي چې د ۲۰۱۳-۲۰۱۲ مودې لپاره یې نږدې ۱۸ ملیونه ډالره مرسته کړې وه خو د جندر په اساس د پولیسو په ریفورم باندې کوم خاص تمرکز نه لري او نه هم اوسمهال دوی د ښځینه پولیسو اړونده کومه خاصه پروژه تمویلوي یا یې پر مخ وړي.

خو د ۲۰۱۳ز کال د جون په میاشت کې، استرالیا په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو پروګرام پیل کړو، د ۱۷.۷ ملیونو ډالرو په ارزښت دي نوښت کې د پولیسو او نورو حقوقي ادارو لپاره روزنیز او مربي اړونده کارونه ترسره کیږي تر څو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو قانون پلي شي. له دې سربیره، استرالیا به د پولیسو په ملي اکاډمۍ او د کریمنالتخنیک ریاستونو، د کورني غبرګون واحدونو او د ټاکل شویو ولایتونو د جندر په واحدونو کې د ښځینه پولیسو افسرانو روزنه کوي.

المان مخکې له دې چې د افغان ملي پولیسو د بیا جوړوني او ریفورم کړني یې یوپول ته په ۲۰۰۷ز کال کې تسلیم کړي، په دې اړه په پیل کې یو مخکښ هیواد وو. لا اوس هم دا هیواد LOTFA ته د کال ۳۰ ملیونه یورو مرسته کوي او یوپول ته یې د پولیسو ۱۵ افسران په موقتي توګه ورکړیدي. د المان د پولیسو د پروژې ډله چې شا او خوا د پولیسو ۲۰۰ افسران لري، په بلخ، بدخشان او کندز ولایتونو او په کابل کې د پولیسو په ملي اکاډمۍ کې د پولیسو د روزنو مرکزونه ایجاد کړیدي په کوم کې چې د ښځینه پولیسو لپاره د پاتې کیدو او ډوډۍ خوړلو بیل بیل ځایونه جوړ شویدي. ښځینه پولیسو ته په کندز کې په بیلو صنفونو کې درس ورکول کیږي حال دا چې صنفونه په بدخشان او بلخ کې مشترک یا ګډ دي. د کابل او مزارشریف روزنیز مرکزونه د ماشوم ساتنې اسانتیاوې هم لري.

## ۷ صندوق: د ملاتړ او پوهاوي په ساحه کې پانګه اچونه- اکسفام

د اکسفام اداره په افغانستان کې د خپلو همکارو ادارو سره په دې کار کوي چې هم په ټولنه او هم د پولیسو په ځواک کې د ښځو پر وړاندې د تاوریخوالي په اړه د خلکو برخورد یا چلند تغیر وکړي.

سیلۍ غفار، د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو د ادراې (HAWCA) ریسه وایې چې: " دا اړینه ده چې ښځې له خپلو حقوقو څخه باخبره وي، په ځانګړي توګه د هغوی د جنسیت په اساس د تاوتریخوالي اړونده. ښځې مونږ پیدا کوي او مونږ ګورو چې په دوی خشونت شوی خو هغوی یې د خشونت پیښه نه ګڼي- دا یو نورمال او د هرڅ ورځڅ کار دی." خو سیلۍ وایې چې عدالت ته د لاسرسي لپاره یواځې د ښځو پوهیدل په خپلو حقوقو باندې کفایت نه کوي.

بریا د دې پوري اړه لري چې د عنعنوي نارینه ټولنې، مذهبي مشرانو او د افغان ملي پولیسو سره اړیکه ټینګه شي. سیلی وایې: " مونږ د ښځو سره د مرستي لپاره یو شیلټر یا سرپنا لرو. خو هغوی له یو شیلټر څخه ډیرو شیانو ته ضرورت لري. دوی پولیسو ته د ښځینه پولیسو په ګډون ضرورت لري څوک چې په قانون پوهي وي او دا مني چې دا د هغوی یو مسولیت دی چې باید په دي اړه عمل وکړی."

د ښځو لپاره د رهبری د فرصتونو د تمویل پروژه (FLOW) کومه چې کابل او بلخ ولایتونو کې تطبیقیږي، د ټولني نارینه او ښځینه مشراني په دي روزي چې څرنګه کولی شي د رسمي عدالت سستم ته لاسرسی پیداکړي. برعلاوه له دي، د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو اداره او دوه نوري همکاري موسسي - د افغان ښځو شبکه او د افغان ښځو د زده کړي مرکز (AWEC)- په ټولنه کې له ښځینه پولیسو څخه د ملاتړ د زیاتولو لپاره محلي مشرانو ته دا وایي چې څرنګه باید پولیس د دوی د ساتلو او خدمت کولو دنده تر سره کړي، او همدارنګه د هغه رول په هکله ور سره هم غږیږي چې ښځینه پولیسي یې لوبولی شي چې په دي کې د تاوتریخوالي له قربانیو ښځو څخه اغیزمن ملاتړ هم شامل دی.

د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو اداره د اسلام د اصولو په رڼا کې د ښځو په حقوقو باندې د دیني عالمانو او مشرانو په روزنه کې یوه پراخه تجربه لري چې په هغې کې د هغوی مالي، روغتیایي او د ملکیت حقوق شامل دي.

د حیاتي ریفورمونو او سمونونو د راوستلو لپاره د اکسفام اداري په ملي او نړیواله کچه آیدوکیسي (داد خواهي) ترسره کړیدي. د دي هدف لپاره، د هیواد په داخل کې د اکسفام اداري په کارونو کې د پولیسو ځینې روزنیز پروګرامونه شامل دي چې د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو د اداري له خوا د کورنیو چارو وزارت، عدلیې وزارت، ښځو چارو وزارت، د ملګرو ملتونو د جمعیت صندوق او د ملي پولیسو د اکادمی سره په ګډه، برابر شویدي.

# ۴. د ګمارني او دنده کې د پاتي کيدو په اړه ننګوني

د افغان دولت او تمويلونکو ادارو د مثبتو هڅو سره سره، تر اوسه پوريپه ډير کم تعداد کې په کار پوهي ښځينه پوليسي شتون لري. په خاصه توګه هغه ښځي چې تعليم يافته دي، نه غواړي چې د پوليسو ليکو سره يو ځای شي او که وغواړي چې ورسره د يو ځای کيدو هڅه هم وکړي، نو د خپلو کورنيو او ټولنو د مخالفت سره مخامخ کيږي. اکثره غوښتنليک ورکونکي ميرمني يا خو کونډي دي او يا نا لوستي او ډير وختونه د ګمارني په کمپاينونو کې د ذکر شويو مالي امتيازاتو په وجه ليواله شويوي چې کار وکړي.

‘د يو مليونو ډالرو په ارزښت د ګمارنو کمپاينونه د کاغذ پر مخ ښه ښکاري، مګر دا بايد ډاډمن کړئ چې تاسي صحيح ميرمني په کار ګمارئ او دا ميرمني په خپلو دندو کې همداسي دوامداره وساتئ.’
د ملګرو ملتونو يو مامور[۳۶]

کله چې دنده اشغال کړي نو اکثره وخت هغوی د دي ستونزي سره مخامخ وي چې څوک هغوی د مسلکي پوليسي افسرانوپه توګه په جدي توګه نه ګڼي. د دي لپاره چې لايقي او ترغيب ورکونکي ميرمني په يو لوی تعداد کې د پوليسو د ليکو سره يو ځای شي، نو دي ته ضرورت دی چې د ساختار يا جوړښت اړونده څو مسئلو ته په بيړنی توګه د حل لاره پيدا شي.

## په افغان ملي پوليسو کې

### جنسي تيری او ځوروني

باور موجود دی چې د نارينه پوليسو له خوا په ښځينه پوليسو افسرانو باندي جنسي تيری او ځوروني د افغان ملي پوليسو په ليکو کې په پراخه کچه موجود دي او دا د دي لامل کيږي چې ډيري ميرمني د پوليسو په ځواک کې له شامليدو او يا په دي دنده کې د پاتي کيدو څخه وويروي.

‘په مزار کې يوې ښځينه پوليسي غوښتل چې کابل ته د پنځو ورځو لپاره ولاړه شي. هغې اجازه وغوښته خو نارينه افسر ورته وويل چې بايد د هغه سره اول په يوه بستره کې خوب وکړي. هغې دا ونه منله او دنده يې پريښوده.’
د افغاني ميرمنو فعاله

د متحده آيالاتو د عامه ملي راډيو د ۲۰۱۲ز کال د مارچ[۳۷] مياشتي په راپور کې راغلي چې د بلخ ولايت مرکز، مزار شريف کې ‘د نارينه پوليسو له خوا د ښځينه پوليسو افسرانو په وړاندي په سستماتيک ډول د جنسي اجبار او حتی په زوره د زنا کولو زړه بوږنونکي پيښي رامنځته شوي’، او دا د هيواد په کچه د ښځينه پوليسو د ډير تعداد په درلودلو سره دريم لوی ولايت دی. په راپور کې دا ادعا هم شوي چې په ځينو پيښو کې د ترفيع په مقابل کې د جنسي ګټي اخستني غوښتنه هم شوي.

‘زيات متضررين وايې چې دوی نه غواړي پوليسو ته ورشي ولي چې ميرمنې په دوی باور نه کوي. دوی ميرمنې ملامتوي. بعضې وختونه پوليس د قضيې د پرمخبيولو لپاره له ميرمنو پيسي غواړي او يا ترې کومه جنسي غوښتنه کوي .’
ليدا يعقوبی، د افغان ښځو شبکه

هغه تګلاري او لارښودونه چې د دي مسئلي سره د مبارزي لپاره رامنځته شوي، لکه د

جنسي ځوروني د
۲۰۱۳ز کال لارښود، نه په محلي کچه
تنفیذیږي او نه هم د کورنیو چارووزارت
له خوا څخه په درسته توګه تر څارني لاندې
نیول کیږي او یا تعقیبیږي.[۳۸]
داسي معلومیږي لکه پولیس چې د دي پالیسي
ګانو یا تګلارو څخه لږه اویا هیڅ
خبرتیا ونه لري او همدارنګه له اړونده
قوانینو لکه د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو
قانون او د افغان میرمنو لپاره ملیکاري پلان، څخه هم پوره علم
او پوهاوی نه لري. د ښځو لپاره د ضروري اسانتیاو نشتوالي د
ښځینه پولیسو سر دردی لاپسي زیاتوي. د پولیسو په حوزو کې
یواځې یو څو د ښځو لپاره مشخص یا د قلف کیدو وړ تشنابونه، د
خوب بیل ځایونه، د جامو بدلولو او ډوډۍ خوړلو محلونه موجود
دي، که څه هم LOTFA په کابل، ولایتي قرارګاګانو او د ولسوالیو
د پولیسو په قومندانیو کې د دي شیانو د نصبولو پلان لري.[۳۹]

هغه میرمنې چې د خپلو نارینه همکارانو له خوا یا ځورول شوي
او یا د کوم عمل په مقابل کې قرباني شویوي، له خپله خوا د
شکایتونو په اوریدلو کې د ستونزو سره مخامخ دي. د یوپول په
کومک سره، په ۲۰۱۰ز کال په کابل کې د کورنیو چارو وزارت د
جندر او بشر حقوقو په واحد کې د افغان ښځینه پولیسو لپاره یو
ځانګړی تیلیفون رامنځته کړو. خو هغه مصاحبې چې د ښځینه
پولیسو سره ترسره شوي څرګندوي چې ډیری له دوی د دي ځانګړي
تیلیفون څخه خبرتیا نه لري او لا ځینې نور یې بې اغیزي ګڼي.

د جندر او بشر حقوقو واحد باید د تیلیفون په زریعه راغلي
شکایتونه اړونده دیپارتمنتونو ته راجع کړي او د ۱۵ ورځو له
تیریدو روسته یې د حال پوښتنه وکړي. که شکایت د وژنې یا ټپ
په اړه وي، نو باید چې دا اداره هغه قضیه کریمنال تخنیک ته د
لا نورو څیړنو لپاره واستوي. که د زور د زنا اتهام موجود وي،
بیا نو دا قضیه د عمومي تفتیش اداري ته استول کیږي، چې هغوی
به یې بیا په خپل وار د تحقیق مرکزي ادارې یا کریمنال تخنیک
ته استوي.

دا چې د نوم د نه ښودلو په شرط داسي شکایتونه معمولاً نه شي
جوړیدی، قربانیان ویرول کیږي چې بیا هغوی له خپلو شکایتونو
څخه تیریږي چې بالاخره د تحقیق په فسخ کولو تمامیږي [۴۰]. د
تیلیفون له کاروني څخه د باور وړ معلوماتو یا ډیټا اخستل هم
ستونزمن کار دی. د ۲۰۱۳ز کال تر نیمایې پوري ویل کیږي چې د
جندر او بشر حقوقو واحد ۵۹ شکایتونه ثبت کړي وو. خو په دي
واحد کې دا وړتیا نه لیدل کیږي چې د شکایتونو څارنه، نظارت
او تعقیب په اغیزمنه توګه ترسره کړي او د نورو دیپارټمنټونو
څخه د ډیټا په اخستلو کې هم د ستونزو سره مخامخ دی.[۴۱]

**۸ صندوق: د ژمنو بدلول په واقعیتونو باندې**

د کورنیو چارو د وزارت تګلاري او لارښودونه چې د ناوړه چلند او ځوروني په څیر لویو ستونزه سره د مبارزې هکله دي، نه تطبیقیږي او دا په خاص ډول په ولایتي او د ولسوالیو په کچه ډیر تر سترګو کیږي.

خو په کابل کې یوه ازمایښتي پروژه کولی شي چې د یو حل لارې په توګه وګڼل شي.

د کابل ښار د پولیسو د قوماندانانو فرمان چې د ۲۰۱۳ز کال د جولای د میاشتي په ۱۳مه د کابل ښار د پولیسو د قوماندان، جنرال سالنګي له خوا د یوپول سره یو ځای جوړ کړو، دا یوه لس نقطه ایز سند دی چې هدف یې " د ښځینه پولیسو افسرانو په اړه د بدرفتاریو" مخنیوی او کابل کې ښځینه پولیسو ته " د ښو کاري شرایطو" برابرول دي. په دې فرمان کې راغلي چې ښځینه پولیسي باید د تهدید او تیري لاندې ونه نیول شي، نو باید چې د پولسیو په کړنو کې فعالانه ونډه واخلي او د دې لپاره چې خپل کارونه په مصئونه توګه ترسره کړي، باید چې ټول اړونده اسانتیاوي ورته برابري شي.

د دې معیارونو د پلیتابه په اړه، د پولیسو هر قوماندان په کابل کې اړ دی چې د هرې میاشتي په آخر کې جنرال سالنګي ته راپور ورکړي. که دا کارونه بریالي وي نو ټولو سیمو ته به دا پروسه وغځول شي او محلي قوماندانان به دې ته واداره کړل شي چې د ښځینه پولیسو د ګمارنې په اړه مسولیت لري.

خو د دې لپاره به د کورنیو چارو د وزارت دوامداره ژمنتیا او ټینګ نړیوال ملاتړ ته اړتیا وي تر څو د راپور ورکوني سستم او تعقیبي میکانیزم پیاوړتیا ډاډ منه شي. له اړونده سیمو څخه د منظمې لیدنې او انفرادي ښځینه پولیسو سره د اړیکه نیولو له لیاري نړیوال مشاورین هم کولي چې د دې په ډاډ من کولو کې یو کلیدي رول ولوبوي چې پر هغوی حاکم قوماندانان د دغو معیارونو مطابق کړنې ترسره کړیدي.

'د دې سند لاسلیک کول د کابل په پولیسو کې د جندر د موضوع د عادي کولو لپاره یو مهم قدم دی. اوس نو زمونږ دنده داده چې د ټول کابل په امنیتي حوزو کې د دې پرنسیپونو د تطبیق په خاطر د حوزو د پولیسو د قوماندانانو سره کومک، ورته لارښودنه او مشوره ورکړو'، د یوپول مشاوري، ولریا ایلیفتری وویل.

' زه په دې باور یم چې دا کار به هم ننګونکي او هم پرارزښه وي خو زه په دې باور لرم چې په ګډه کار کولو سره به مونږ بریالي شو.'

## د افغان ملي پولیسو جوړښت

لکه چې مخکې هم ذکر شول، د پولیسو ولایتي قوماندانان دیته زړه نه ښه کوي چې په خپلو حوزو کې خالي پوستونه په ښځینه کارکوونکو ډک کړي. او د دغسې پوستونو نیمایې، په ځانګړي توګه لوړپوړي کچه، اوس د نارینه کارکوونکو له خوا نیول شویدي چې قوماندانان د دي دلیل دا ښایې چې دوی د ښځینه په کار پوهو ښځو له فقدان سره مخامخ دي .[42] په عین وخت کې، ځینې وختونه دا قوماندانان هغه ښځې چې د ګزمې په روزل شوي، دیته واداره کوي چې د تشکیل یا ساختار هغه ځایونه ډک کړي چې د بریدملان او افسرانو په کچه ښځینه و ته ځانګړي شویوي.[43] ښځو ته ترفیع ورکول هغو پوستونو ته چې دوی یې د اجرا کولو پوره توان نه لري، لا نور د ښځینه پولیسو باور کمزوری کوي. دا کار د ښځینه پولیسو د ګمارنې په اړه بې میلي لا غښتلي کوي او د نارینه پولیسو په زړونو کې خوابدي او کرکه ډیروي.

په همدي شان، ډیری ښځینه وړي او په کار پوهو ښځینه پولیسو ته د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د پرمختګ او حرفوي فرصتونه نه ورکول کیږي. په ۲۰۱۳ز کې یو خپور شوي راپور څرګنده کړه چې ښځینه پولیسي ډیری وخت چې کله ترفیع اخلي نو هغه د خپلو خپلوانو په اثر و نفوذ باندې اخلي. کله چې دوی ترفیع وکړي نو دا ترفیع یواځې د " کاغذ د ترفیع" په مانا وي چې رتبه او معاش په کې لوړیږي خو مسئولیتونه یې نه زیاتیږي. دا کار د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د ښځینه پولیسو د حیثیت په قوي کولو کې ناکام دی او د نارینه پولیسو په زړونو کې خوابدي او کرکه ورته زیاتیږي.[44]

> ' مونږ تل د سړیو تر واک لاندې یو'
> په هرات کې ښځینه پولیسه[45]

همدارنګه، داسې ګډوډتیا هم شته چې څوک بالاخره دا مسولیت لري چې دښځینه پولیسو په شمیر کې زیاتوالی راشي او د هغوی د ترفیع مسایلو ته رسیدګي وکړي. ځینو کسانو سره چې مرکې شوي، وایې چې په کابل کېډ کورنیو چارو وزارت په خپل تشکیل کې د هرې حوزي لپاره د پولیسو شمیر او رتبې ټاکې. دوی وایې چې د پولیسو آمران او قوماندانان بیا نو نه شي کولی چې په محلي کچه شمیري پورته یوسي .[46] ځینې نورو ویل چې داسې تصمیمونه د ولایت او ولسوالیو په کچو نیول کیږي. دا خړ پړ حالت او ګډوډتیا هغه ننګونه لا پسې نوره هم غښتلي کوي چې عدالت ته د مسولو چارواکو د راکش کولو په اړه ده.

په پای کې، له ۷۰ تر ۸۰ سلنو پوري افغان ملي پولیس نالوستي (بې سواده) دي[47]، چې د جنګونو او طالبانو له خوا د میرمنو په تعلیم باندې د بندیز له امله، دا کچه په میرمنو کې لا زیاته ده. دا کار خپله دا ستونزمنوي چې په کار پوهي ښځې دي په لوړو څوکیو وګمارل شي. له دي علاوه، د هغو تحصیل کرده میرمنو ډیری برخه چې د پولیسو له ملي اکادمی څخه فارغیږي، په کابل کې په وزارت کې په کار ګمارل کیږي، چې په ولایاتو یا ولسوالیو کې د ښه تعلیم لیدلو ښځو لپاره د کار کولو زمینه لا پسې محدودوي.

**۹ صندوق: د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي سره مبارزه: ولي د کورني غبرګون واحدونه برياللي نه دي؟**

د ښځينه پوليسو په شمير کې د زياتوالي، د هغوی د حيثيت د ښه کولو او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي سره د اغيزمني مبارزې لپاره په نورو هيوادونو کې له يو لړ نوښتګرو لارو چارو څخه کار اخستل شوی دی.

په دې کې د ميرمنو لپاره ځانګړيد پوليسو حوزې شاملي دي - چې په لاتينه امريکا کې په لوړ تعداد خو په بنګله ديش او پاکستان کې هم موجودې دي- او د کورني تاوتريخوالي واحدونه يا ادارې، چې په بيلابيلو هيوادونو کې رامنځته شوي لکه هندوستان، لايبيريا، سيرا ليون، سويلي افريقا او برتانيه.

افغانانو د کورني غبرګون واحدونه د حل لارې په توګه منلي. که څه هم دې واحدونو ځيني برياوې له ځانه سره لرلي - د بيلګي لپاره يې د کپتان رحيمي کيسه په ۱ صندوق کې وګورئ- خو په عموم کې ويلی شو چې دا واحدونه ضعيف دي، کم کارول کيږي، تر ډيره بريده يواځې د پوليسو تر حوزو پورې محدود دي او په خپل جوړښت کې ډيرې لږې او صحيح تعليم نه ليدونکي ميرمنې لري. له دې سربيره، ډير واحدونه ځانګړی ځای نه لري او نه هم اړونده وسايل او اسانتياوې.

'په کابل کې په کورنيو چارو وزارت کې د مرکزي کورني غبرګون واحد مرستياله، نسيمه وايي چې 'مونږ يواځې يوه کوټه لرو'.' که يوه ښځه دلته راشي چې خپل ميړه وهلي وي، نو هغه خپله کيسه مونږ ته دلته د نورو خلکو په مخ کې نه شي کولی'.

ځينو حوزو کې د کورني غبرګون واحدونو لپاره جدا جدا الحاقيې جوړې کړې چې د هر يو د داخليدو دروازې هم جدا دي. خو د قوماندانانو له خوا ځيني وختونه د دې واحدونو محلونه بدليږي را بدليږي.

هغه کسان چې د کورني غبرګون په واحدونو کې کار کوي، د خاصو روزنو له کمبود سره مخامخ دي لکه روحي ټولنيزه روزنه چې د تاوتريخوالي د قربانيانو سره به په لا ښه کومک کولو کې د دوی سره مرسته وکړي. دا کارکونکي په ډير ندرت سره موټرو ته لاسرسی لري چې ټولنو ته د خپلو خدماتو په عرضه کولو کې يې وړتيا لا پسې محدودې; په افغانستان کې يوه لويه ستونزه دا ده چې ميرمنه اکثره وخت په آزادانه توګه سفر نه شي کولی.

ليدا يعقوبی له افغان ښځو شبکې څخه وايي : ' د کورني غبرګون واحدونه د ښځينه قربانيانو څخه د ملاتړ په اړه يو مثبت رول لوبولی شو که په درسته توګه تنظيم شوي وای او ښه روزل شوي کسان په کې وای. يواځې يو نوم پرې کيښودل کيږي او داسي کسان په کې په کار ګمارل کيږي چې پوهه نه لري. په لومړيو کې، د ښځو لپاره دا يوه ښه نښه وه چې حد اقل يو ځای خو شته چې دوی هلته

ولاړي شي. خو کله چې قربانیان ورشي او وګوري چې څوک ورسره مرسته نه کوي، بیا نو دا کار په پولیسو باندې باور د خطر سره مخامخ کوي.'[۴۸]

د دې ضعیفو نقطو سره د مقابلې لپاره ځینې هڅې اوس روانې دي. د ۲۰۱۳ز کال د مارچ په میاشت کې، یوپول د کورنیو چارو وزارت او LOTFA سره یوه موافقتنامه لاسلیک کړه چې له مخې به یې د کورني غبرګون واحدونو ته نوره روزنه ورکول کیږي او په ځانګړي توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لمنځه وړلو د قانون د ښه پلیتابه لپاره، باید د کورني غبرګون د واحدونو او څارنوالانو ترمنځ یوه پیاوړي اړیکه قایمه شي.

د هالینډ حکومت هم داسې یوه پروژه تمویلوي چې هدف یې د کورني غبرګون د واحدونو او روغتیایي خدماتو د وړاندې کوونکو ترمنځ د اړیکو ښه کول دي -معمولاً همدا روغتیایي مرکزونه دي چې ښځې ورته د مرستې غوښتلو لپاره مراجعه کوي- تر څو ډاکټران په دې پوه شي چې د وی باید د تاوتریخوالي ښځینه قربانیانې تر تداوي لاندې ونیسي او پولیسو سره د داسې جرایمو په تحقیق کې مرسته وکړي.

تر هغې به د کورني غبرګون واحدونه ونه توانیږي چې د کورني تاوتریخوالي متضررین په اغیزمنه توګه حمایه کړي تر څو چې د پولیسو قومندانان دیته تشویق نه شي چې داسې واحدونو ته زیات واک ورکړي، او په دې واحدونو کې باسواده، ښه روزل شوي او په ترجیح سره ښځینه پولیسي د ټولو اړونده وسایلو او حمایت سره نه وي مقرري شوي.

## ښځینه پولیسو سره مساویانه چلند نه کیږي

ډیری ښځینه پولیسي چې کار کوي یا نوکر صفته کار کوي یا په اداري کارونو بوختې وي. د ښځینه مراجعینو له تلاشۍ پرته، میرمنې په ډیر ندرت سره د پولیسو اصلي دندې لکه د جرایمو تحقیق یا د متهمینو او مظنونینو نیول، اجرا کوي. د هرات یوې ښځینه پولیسې شکایت وکړ چې: 'د سړو غوندې چلند زمونږ سره نه کیږي. حتی که زمونږ رتبه د سړو د رتبو سره یو شان هم وي، قومندانبیا هم په مونږ غږ کوي چې چای ورته جوړ کړو یا څه ورته ټایپ یا ولیکو.'[۴۹]

میرمنې ډیر وخت د پولیسو اساسي وسایل یا درست یونیفورم نه لري چې ځینې میرمنې خپلې جامې او بوټان په خپلو پیسو ځانته اخلي په داسې حال کې چې د ښځینه یونیفورم لپاره بودیجه هم اختصاص شویده. د هرات یوه بله ښځینه پولیسه وایي چې ' مونږ اکثره وخت بوټان، ولچکې او ډنډې یا بټان نه لرو. حتی کله چې مونږ د عملیاتو لپاره هم وځو، نو مونږ د خپلې ساتنې لپاره یوه وسله هم نه لرو. هغوی وایي چې تاسې وسلو ته ضرورت نه لرئ ځکه چې سړي د ستاسو حفاظت کوي.'[۵۰]

ډیر نارینه پولیس اوس هم په دي نظر دي چې میرمنې او پولیسي یوه لیري خبره ده، او ځینې نور دا شکایت کوي چې ښځې خپلو کارونو ته ناوخته راځي او ژر ځي او د سواد کچه یې هم ټیټه ده، خو بیا هم ورته یو شانته معاش ورکول کیږي. د پولیسی له کارونو ها خوا، ښځینه پولیسي د کور د کارونو او ماشومانو د مراقبت مسئولیت هم په غاړه لري، خو د دي کارونو په مقابل کې افغان ملي پولیس ورسره ډیره کمه مرسته کوي.

نارینه پولیسو ته د جندر په اړه روزنه د هغوی د سلوک او رفتار په بدلولو کې ډیره حیاتي ده. له افغان مدني ټولنې مجتمع څخه عزیز رفیعی، څوک چې د ټولنې د پولیسئ هڅې هم پر مخ وړي، وایې چې: ' هر څومره چې ته د میرمنو د وړتیاوو په لوړولو کار کوي په هماغه اندازه د نارینه و د حسادت خطر هم زیات وي. نو باید چې د نارینه و سره کار وشي او وپوهول شي چې میرمنې د دوی سره برابري دي.'

خو یوه مسئله چې دلته موجوده ده هغه د روزنیزو پروګرامونو د کیفیت او ارایه کونې د څرنګوالي په اړه ده ;د دي راپور لپاره چې د یو لړ نړیوالو مشاورینو سره مرکه شوي، هغوی ویلي چې هغوی د میرمنو لپاره د روزنیزو کورسونو له محتویاتو څخه خبر نه دي او د درسي نصاب موثریت یې هم تر پوښتنې لاندې ګڼلی.

د ۲۰۱۳ کال د مارچ په میاشت کې، د کورنیو چارو وزارت د داسي روزنیزو پروګرامونو لپاره د بشر حقوقو، جندر او د کوچنیانو حقوقو په نوم یو لارښود کتاب تصویب کړو چې د یوپول او د پولیسو د ملي اکادمی پواسطه جوړ شوی وو .۵۱د روزنې یا آموزش د کیفیت د ښه والي او همغږي کولو لپاره دا یو خوش آینده قدم وو. خو دا چې د نړیوالې ټولنې نقش د ' روزونکو روزنې ' او مشورتي کارونو ته د بدلیدو په حال کې ده، د دي احتمال شته چې د جندر په اړه روزنه به بیا د لومړیتوبونو له لست څخه وغورځیږي.

| ۱۰ صندوق: افغان ملي کاري پلان ۱۳۲۵ |
| --- |
| په ۲۰۱۱ز کال کې، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د نورو کلیدي وزارتونو له استازیو سره، د ملګرو ملتونو د امنیت شورى د ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک د تطبیق په خاطر د افغانستان لپاره د لومړنی ملي کاري پلان NAP په جوړولو پیل وکړ. د ۲۰۱۴ز کال تر پای پورې به دا پلان وروستی شي.<br><br>د ملګرو ملتونو ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک په غړیو هیوادونو غږ کوي چې په هغه هیوادونو کې چې له جنګ څخه راوځي، د میرمنو ګډون د تصمیم نیونې په ټولو کچو کې زیات کړي. ټول غړي هیوادونه د نړیوالو قوانینو له نظره قانوني وجیبه لري چې له دي پریکړه لیک څخه پیروي وکړي. |

په تخنیکي کاري ګروپ کې چې د ملي کاري پلان په جوړونه کار کوي، د کورنیو چارو د وزارت استازی د کورنیو چارو وزارت لپاره د کړنو یو ځانګړی چوکاټ جوړوي چې د ملي پلان برخه به هم وي.

نو افغان دولت او تمویلونکي اداري باید دا ډاډمن کړي چې په ۱۳۲۵ ملي کاري پلان کې په امنیتي سکتور کې د میرمنو د ګډون لپاره مشخص شاخصونه موجود دي، د ګمارني، مسلکي جوړوني او تصمیم نیوني په ګډون.

په دي پلان کې باید د څارني شه میکانیزمونه هم موجود وي تر څو جوته شي چې شاخصونه په لاس راغلي او کنه، همدارنګه د دي پلان د تمویل پلان هم باید رامنځته شي تر څو افغان دولت وشي کړای ملي کاري پلان په اغیزمنه او بشپړه توګه سره پلی کړي.

# تمویلونکي هم باید خپلې هڅې ګړندۍ کړي

که څه هم ځینو تمویلونکو ادارو په دې اړه تر یوه بریده کار کړی، خو معلومېږي چې تمویلونکو ادارو د ډېرو میرمنو د ګمارلو په اړه په لږه اندازه ستراتیژیکه پلان جوړونه کړېده. د روزنې، مربیتوب او تمویل ترمنځ همغږي لږه ده. د جدا جدا جنسونو په حساب بیله شوي ډېټا یا معلومات به د ښې څارنې سره مرسته وکړي.

## د همغږۍ نشتوالی

د پولیسو موضوعاتو اړونده، د دونرانو یا تمویلونکو ترمنځ همغږي نشته که څه هم چې د ځینو ادارو له خوا په دې هکله عمده هڅې هم کړې دي چې د یوناما د پولیسو د مشورتي واحد نوم په دې هکله د یادولو وړ دی. اوسمهال د ریفورم هڅې چې د کورنیو چارو وزارت او د پولیسو د نړیوالې همغږۍ بورډ له خوا پر مخ بیول کیږي، باید دا حالت په راتلونکي کې اصلاح کړي.

## د معلوماتو راټولول

دونران باید د خپلو کړنو د راپور ورکونې په وخت کې د جنسیت په اساس بیلې بیلې احصایې وړاندې کړي. په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو ماموریت، کله چې عمومي منشي ته د افغانستان لپاره مخکې له مخکې جوړ شویو معیارونو یا شاخصونو په اړه درې میاشتنۍ راپور ورکوي، نو خپله ډېټا یا معلومات باید جنسیت په حساب د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د میرمنو د ګډون په هکله وړاندې کړي.

## روزنه

په افغانستان کې د ناټو روزنېز ماموریت (NTM-A) چې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د نظامي ماموریت تر چتر لاندې کار کوي، زیات تمرکز د بلوا په خلاف هڅو ته وقف کړی چې د نړیوالو ځواکونو له خوا له ۸۰ څخه تر ۹۰ سلنو پورې روزنې ترسره کیږي. دوا‌ړه، په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت او یوپول په افغانستان کې د پولیسو د روزلو مخکښان دي[52]'که څه هم چې اوس په ډېریدونکې توګه دوی خپله توجه " روزونکو روزنې" او مشورتي رولته اړولې ده.

د پولیسو لپاره ټول روزنیز کورسونه باید د کورنیو چارو د وزارت له خوا تصدیق او د هغې سره په همغږۍ کې ترسره شي. خو په واقعیت کې، دا کړنې او اجراأت هیڅ ښه نه همغږي کیږي: یو امریکایي پوځي چې د پولیسو لپاره یې د مربیتوب کار سرته رسوو، وویل: 'ډېر زیات ټریننګونه او روزنیز پروګزامونه روان دي خو هیڅوک یو کلي نظر نه لري - بیخي ګډوډي ده.'[53]

## مربیتوب

د پولیسو ارشدو افسرانو لپاره نړیوال څواکونه د مربیتوب خدمتونه هم ترسره کوي. ډیری هغه کسان چې مرکه ورسره شوي، وایې چې مربیتوت د جندر-حساسو موضوعګانو په اړه د پولیسو د ریفورم یو کلیدي عنصر دی، ښې لارښوونې او تخصصي نظریات وړاندې کوي چې زده کړو ته د دسترسي یوه ښه سرچینه ده. اما ځینې خلک داسې هم فکر کوي چې د دې مربیانو کیفیت یو له بل څخه ډیر توپیر لري. هغه سټاف یا کارکونکې چې د یوپول سره موقتي کار کوي، هغوی نظامي پولیسان دي چې د ملکي یا ټولنې د پولیسو حیاتي مهارتونه نه لري. نړیوال نظامي څواکونه د پولیسو لپاره هم د مربیانو او هم د روزونکو په توګه کار کوي. د پولیسو پاسنې مربې وړاندې وویل چې: ' د دې کار لپاره د پولیسو مسلکې افسرانو ته اړتیا ده. حتی زمونږ ځینې خلک چې د قانون د تنفیذ متقاعد شوي افسران دي، له کوچنیو ښارونو دلته راغلي او هغه اړینه تجربه نه لري.'[۵۴]

## تمویل

که څه هم ځینې تمویلونکې اداري د ښځو له حقوقو او ښځینه پولیسو څخه په ډاګه ملاتړ کوي، خو یو څو و یې د ښځینه پولیسو د ګمارلو لپاره ځانګړي یا په لویه کچه مالي سرچینې اختصاص کړیدي. چې دا کار په هغه ننګونې باندې برلاسه کیدل لا ستونزمنوي چې په دې نشریه کې ذکر شوي (۶ صندوق وګورئ).

| ۱۰ صندوق: همغږي ډیره حیاتي ده |
|---|
| په ۲۰۱۱ز کال کې، د هالینډ حکومت په کندز ولایت کې د پولیسو د روزنې پراخه ماموریت پیل کړو. په دغه ماموریت کې د امنیت او عدالت سکتورونو د ملاتړ لپاره ډیرې هڅې سره راټولې کړې. په دې کې د پولیسو لپاره بنسټیز او پرمختللي روزنیز کورسونه، د افغان ملي پولیسو له رهبری څخه د ملاتړ لپاره د پولیسو د مشورتي ګروپ رامنځته کول، د پولیسو او څارنوالانو ترمنځ د همکاریو ښه کول، او ښځینه پولیسو او د ټولنې پولیسئ ته د کومکونو سوق کول په کې شامل دي.<br><br>دې ماموریت د نړیوالو ادارو او ماموریتونو ترمنځ د همغږئ د ښه کولو هڅه هم وکړهچې په دې کې یوپول، د یوناما د پولیسو څانګه او د هالینډ د ولایتي بیا رغونې ټیم شامل دي چې د هالینډ ماموریت د همغږئ د مدیریت ټیم په ترڅ کې د هالینډ یو افسر د یوناما د پولیسو په واحد کې تمویل کوي چې په هغې کې د یوپول د کندز د برخي رهبري هم شامله ده.<br><br>په کندز کې د یوناما د پولیسو د مشورتي واحد یوه کارکونکې، الکساندرا کیجر وایې: 'ډیری پروژې په افغانستان کې یو ډول موخې لري خو همیش خپلو اهدافو ته نه رسیږي. هر څوک خپل کارونه ترسره کوي. مونږ کوښښ وکړ چې ټول را ټول کړو تر څو د کارونو اغیزمنتیا ډیره شي.' |

د دي ماموریت دویم روش دا وو چې د افغان ملي پولیسو د ولایتي رهبرۍ د مربیتوب اړتیاوي اولویت بندي کړي. په پورته کچه یوه اداره کې داسي یو کار ډیر حیاتي وو ځکه چې هلته محلي مشران د واک درلودونکي وي او د دي احتمال ډیر شته چې دا مشران به د ښځو لپاره د خوندي پالیسیو له جوړولو او تنفیذ څخه ملاتړ وکړي.

د دي یوه نتیجه چې ښایي ووړه خو ډیره مهمه وي هغه په کندز کې د ښځینه پولیسو په شمیر کې زیاتوالی دی. هلته اوس له ۳۷۱۶ افغان ملي پولیسو کارکونکو څخه ۴۲ یې میرمني دي چې په هغې کې ۳ افسراني، ۸ بریدملانی او ۲۱ د ګزمي لپاره پولیسي دي.

یو راپور چې پنځه ولایتونه یې سروی کول، وایې چې د ښځینه پولیسو لپاره د فرصتونو او روزنو له درکه، د کندز ولایت په سر کې راځي. په راپور کې دا هم راغلي وو چې د نارینه همکارانو له خوا د میرمنو زیات احترام کیده ځکه چې روزنیزو پروګرامونو یې مهارتونه لوړ کړي وو.⁵⁵
جمیله، چې په کندز کې د افغان ملي پولیسو د جلب او جذب یوه ماموره ده، وایې: ‘ په تیر کال کې مونږ ۱۵ ښځې په کار وګمارلي. پنځه یا شپږ یې تعلیم یافته وي، پاتي نوري یې بی سواده وي. خو ټولو یې بنسټیز روزنیز پروګرامونه ترسره کړي او تر اوسه په پولیسو کې دنده اجرا کوي.’

د هالینډ ماموریت د ۲۰۱۳ز کال د جولای په میاشت کې له توقع څخه مخکې، وتړل شو چې دا یې ستونزمن کړل چې د دي ماموریت تاثیر یا پایدارتوب وارزول شي.

له کندز څخه د تمویلونکو ادارو لپاره مهمو توصیو کې راغلي چې:

د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ په عین ساحه کې باید همغږي ښه شي.
د پولیسو ولایتي قومندانانو او نورو ارشدو چارواکو ته د مسلکي مربیانو د فراهم کولو اولویت بندي کول او همدارنګه د مدیریت، رهبرۍ او د ټیم جوړوني د روزنو اولویت بندي کول.

د پولیسو د ارشدو مامورینو تشویقول تر څو د ښځینه پولیسو په هکله په عام محضر کې خبري وکړي.

په یوه ساحه کې د یو بل سره د پولیسو د مشرانو ترمنځ د اړیکو پیدا کول تر څو ملاتړي مشران یو ځای کړل شي او غیر ملاتړي مشران د ښځینه پولیسو په مزایاو باندي معتقد کړل شي.

له ساحوي دفترونو څخه په هغه ساحه کې د پولیسو د قومندانانو سره د مربیتوب د اړیکو د رامنځته کولو لپاره د یو بنسټ په صفت کار اخستنه.
له نړیوالي ټولني څخه په پیغام اخستنه او تعقیبي کارونو کې یو شانته والي، د مثال په توګه د پولیسو د قومندانانو په کړنو

باندې د څارنې د میتود رامنځته کول

د ولایتي پولیسو د قومندانانو تشویقونه تر څو د مدني ټولنې، د ښځو د سازمانونو په ګډون، سره د باقاعده منظمو خبرو اترو لړۍ پیل کړي.

# ۵. د ټولنیزو او کلتوري خنډونو سره مقابله

په ټوله کې، ټولنې په ډېرېدونکي توګه جوتوي چې دوی د ښځینه پولیسو سره ملاتړي دي خو بیا هم بې میله دي چې خپلو لوڼو ته اجازه ورکړي چې د افغان ملي پولیسو سره یو ځای شي، ځکه چې د پولیسو دنده اوس هم د یو ټیټ حیثیت لرونکي او خطرناکې دندې په توګه ګڼل کیږي.

## ټولنیز او کلتوري خنډونه

### د ښځینه پولیسو په اړه بده انګیرنه

تقریباً په ټول افغانستان کې، له کور څخه بهر د ښځو له کار کولو سره ډېرمخالفت موجود دی. ښځینه پولیسي د بیلا بیلو دلایلو له مخې د کم حیثیتدرلودونکي ګڼل کیږي لکه د کار په چاپیریال کې یې د نارینه و سره پیښه کیږي، باید چې له کوره بهر شپې تیرې کړي او د نارینه و سره د اوسیدو او خوړو ګډمسکن لري. د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د فحشا او بدلمنۍ اداعا ګانې - د ناوړه چلند او جنسي ځورونو د پراخو ګنګوسو په ګډون- د دې انګیرنې سره لا مرسته کوي او بالاخره د پولیسو لیکو ته د تعلیم یافته ښځو راجلبول د لا نورو ستونزوسره مخامخوي.

'ګاونډیان راپسې خبرې کوي. ډېرې انجونې غواړي چې د پولیسو لیکو ته شاملې شي، خو د هغوی کورنۍ یې نه خوښوي. د مجردو انجونو لپاره خو بیخي ستونزمنه ده. خلک به ورپسې آوازې خېروي او بیا به ورسره څوک واده هم نه کوي.'
په هرات کې یوه ښځینه پولیسه[۵۶]

'کله چې تاسې په افغانستان کې له وړو انجونو وپوښتئ چې کله غټې شوی نو څه جوړېدل غواړئ، درته به و نه وایې چې یوه ښځینه پولیسه.
د پولیسو احترام نه کیږي او ښځینه پولیسې د درناوي وړ نه دي.
د پولیسو یو پخوانی امریکایې روزونکی[۵۷]

د کندز د ښځو چارو د ریاست یو استازي وویل چې یوې ښځې په یوه میاشتکې څو ځله خپل کور بدل کړو په دې خاطر چې د هغې ګاونډیان پرې پوه شوي وو چې هغه په پولیسو کې کار کوي.

'ډېر خلک فکر کوي چې ښځینه پولیسې فاحشې دي. همدارنګه،ټولنه دا هم نه خوښوي چې د پولیسو یو موټرډي راشي او یوه ښځه دې له ځان سره خپلې وظیفې ته یوسي - په عادي توګه افغانان، پولیس د تاوتریخوالي په مانا ګڼي.'[۵۸]

' زما هیله دا ده چې د افغانانو عمومي ذهنیت د افغان نارینه او ښځینه پولیسو د ورځنې ژوند په ښودلو بدل کړم. هیله مې ده چې په عنعنوي ټولنو کې به لږ مقاومت موجود وي چې خپلو لوڼو ته اجازه ورکړي تر څو د پولیسو سره یو ځای شي.
سبا سحر، د پولیسو په اړه د *امان الله کمیسار* د ډرامې ښځینه ستورې

### ښځینه پولیسې د خطر په معرض کې

ښځینه پولیسې، په ځانګړې توګه هغه یې چې د رهبرۍ په پوستونو کار کوي د یو بل اضافي خطر سره هم مخامخ دي او هغه دا چې دوی د یاغیانو یا بلواګرو

له خوا په دي خاطر د هدف لاندې نيول کيږي د افغان ملي پوليسو برخه دي. سمونمل ملالی کاکړ- په هيواد کې تر ټولو عالي رتبه ښځينه پوليسه او په افغانستان کې يو د لويو شهرت لرونکو ښځو له جملي څخه ده- د طالبانو له خواپه ۲۰۰۸ز کال کې په کندهار کې وويشتل شوه او مړه شوه.

مشهوري ښځې په دوامداره توګه تر هدف لاندې نيول کيږي. حنيفه صافی چې د لغمان ولايت د ښځو چارو ريسه وه، د ۲۰۱۲ز کال د جولای په مياشت کې د يو موټر بم پواسطه ووژل شوه. پنځه مياشتي وروسته د هغې ځای ناستي، ناجيه صديقي هم په موټر کې د سورو بريد کونکو له خوا ووژل شوه. [59] ځينو ته باقاعده تهديدونه کيدل. لږ تر لږه، د ښځينه پوليسو يوې د ښه شهرت لرونکې پوليسي له هيواد څخه تيښته کړيده.

تر هغې چې افغان دولت د ښځينه رهبرانو او مشرانو د ساتنې په اړه خپل اقدامات ډير کړی نه وی، نو دا ستونزه به خپل ځای پاتې وي چې کورنی خپلو ميرمنو ته اجازه نه ورکوي تر څو د پوليسو سره يو ځای شي.

## د ټولنې د ملاتړ خپلول

د افغان ملي پوليسو د تشکيل د اړوندو ستونزو مهار کول د ښځينه پوليسو په اړه د ټولنې د مخالفت په خلاف مرسته کولی شي. خو بيا هم افغان دولت او تمويلونکو ادارو ته لا ډير څه کول په کار دي تر څو د ښځينه پوليسو لپاره د ټولنې ملاتړ رامنځته شي او بالاخره د ميرمنو، په ځانګړې توګه د تعليم يافته ميرمنه ګمارنه پايداره شي. کله چې ټولنه په دي اهميت پوهه وي، نو کولی شي چې د پوليسو قومندانان ديته تشويق کړي چې ميرمنې له ځانه سره ونيسي او هغوی په مسلکي دندو باندې وټاکي.

### د ټولنې په مشرانو باندې ترکيز کول

د ټولنې د متنفذينو او مشرانو، په ځانګړې توګه د مذهبي مشرانو ملاتړ حاصلول ډير حياتي دي. لکه يو افغان نارينه پوليس چې وايي: 'که چيري مولويان د جمعې د ورځو په خطبو کې د ښځينه پوليسو په حق کې مثبتي خبري وکړي، نو خلک به د دوی خبري ومني.' تمويلونکي اداري بايد د هغو پروژو لپاره خپلي مالي مرستي زياتي کړي چې دغه مشران د ميرمنو د حقوقو په اړه د اسلامي شريعت او مهمو ملي قوانينو لکه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د لمنځه وړلو قانون په رڼا کې روزي. د افغانستان د شرايطو په نظر کې نيولو سره، يو داسي روش او لاره چې توجه يې په اسلام کې د حقوقو او وجايبو په هکله وي، په ډير ګمان به تر ټولو اغيزمنه لاره وي.[60]

ډاکټر عبدالله حقيار، د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي استاذ وايي چې اسلام د ښځينه پوليسو ممنوعيت نه کوي: 'په حقيقت کې هغوی ته يو ډير بيړنی ضرورت احساسيږي ځکه چې دا د منلو وړ نه

ده چې ښځې دي د نارینه پولیسو له خوا تلاشي شي. خو ښځینه پولیس باید یو لړ شرایط په نظر کې ونیسي. یوه ښځینه پولیسه افسره باید د یو نارینه افسر سره یواځې نه وي، د دوی کوټې باید بیلي وي، او د جامو بدلولو ځای یې هم بیل وي. بیا نو کومه ستونزه نشته.'[41]

| ۱۱ صندوق: د مولویانو سره خبري کول |
| --- |
| زینب منصور په ۲۰۰۷ز کال کې په ۱۶ کلنۍ کې د افغانستان د شمال د تخار په ولایت کې د افغان ملي پولیسو سره یو ځای شوه. د هغې لومړنۍ دنده دا وه چې د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ز کلونو ترمنځ د امنیه قومندان لپاره د ویاندۍ دنده ترسره کړي ; د دي دندي په لړ کې به هغه په منظمه توګه په محلي تلویزیون او رادیو کې راڅرګندیده او د ښځینه پولیسو په هکله به یې خبرې کولې.<br><br>د ولایت په مرکز، تالقانوکې د ښځینه پولیسو پر وړاندې له لاریونونو کولو وروسته، هغې د محلي مذهبي مشرانو سره خبري وکړې. د دې لپاره چې د هغوی ملاتړ د ځانه سره ولري، پوښتنه یې تري وکړه چې: 'که ستا ښځه کومه روغتیایي ستونزه ولري نو ته غواړې چې نارینه ډاکتر یې درملنه وکړي او که ښځینه؟ همدارنګه، که یو کور تلاشي کیږي، نو ته غواړې چې د ښځو ځایونو ته نارینه پولیس ولاړ شي او که ښځینه؟<br><br>دا ناستې د دې سبب شوي چې مولویانو د ښځینه پولیسو په طرفدارئ باندې خبري پیل کړي. د مولویانو او ټولنو د غړیو سره د زینب ناستې چې په هغې کې به یې په دې اړه خبري کولې چې څرنګه ښځینه پولیسي کولی شي د جامعې د ښځینه غړو سره مرسته وکړي، د دې سبب شوي چې د ښځینه پولیسو په اړه د ټولنې د خلکو نظریات بدل شي. تخار اوس ۲۷ ښځینه پولیسي لري چې په ۲۰۰۸ز کال کې یواځې پنځه وې. زینب اوس د کورنیو چارو وزارت لپاره د ولایتي جندر او بشر حقوقو د واحد مشره ده.<br><br>په ۲۰۱۲ز کال کې، د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو اداري چې د اکسفام یوه همکاره موسسه ده، وکولی شول چې د افغان وزارتونو سره په یو ځای کار کولو سره د کابل، هرات او ننګرهار په ولایتونو کې ۱۹۲ مولویان وروزي. د اسلام له نظره د ښځو د حقوقو پروژې مولویانو ته د اسلام په رڼا کې د ښځو د اقتصادي، روغتیایي او ملکیت اړونده حقوقو په اړه روزنه ورکړه.<br><br>د افغانستان د کوچنیانو او ښځو لپاره د بشري مرستو د اداري مشرې، سیلی غفار وایي چې ' دا په افغانستان کې ډیره شخړه امیزه ده. موږ د دیني چارو د وزارت سره له نږدې کار کوو او موږ داسي روزونکي انتخاب کړي چې هغوی خپله مولویان ول، ځکه چې مولویان په اغلب ګمان صرف هماغوی ته غوږ ږدي.' |

## په یو ملکي پولیسي ځواک کې د میرمنو ونډه

له فزیکي تلاشۍ او د تاوتریخوالي له قرباني سره له مرستي کولو علاوه، د ښځو موجودیت د یو ځواب ورکوونکي او مسئوله ملکي پولیسي ځواک په رامنځته کولو کې هم مرسته کولی شي.

ښځینه پولیس میرمنو او کوچنیانو ته د پولیسو لاسرسي ډیروي، د نارینه او ښځینه پولیسو په منځ کې د ښځو د حقوقو په هکله د دوی پوهاوی ښه کولی شي، په ټوله کې د میرمنو په اړه د نارینه پولیسو چلند ښه کوي، د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالي او توپیر یا تبعیض کچه را ټیټوي او د نیوني او د کورونو په تلاشۍ کې د منازعاتو مخنیوي کې مرسته کوي.[62] ښځینه پولیسي له تاوتریخوالي ور هاخوا هم د میرمنو سره مرسته کولی شي.دوی د دي سره مرسته کولی شي تر څو دا ډاډمن شي چې د کورنۍ په حقوقو کې د میرمنو حقوقو ته درناوی کیږي، د بیلګې په توګه د ماشوم د حضانت په لانجه کې، یا د هغې کونډي سره په حقوقي مسئلو کې لکه د ځمکي پر سر یا میراث اړونده موضوعګانو کې مرسته کول چې نارینه خپلوان نه لري تر څو دفاع ور څخه وکړي. ښځې کولی شي د دي په ډاډمنولو کې هم خپل رول ولوبوي چې ښځینه بندیانو سره دي په منصفانه او مناسبه توګه چلند وشي.

لکه د ښځو د حقوقو یوه افغانه فعاله چې وایي: ‘ دا د خدمتونو د پراخولو او باور خبره ده. میرمنې د یو تهدید په توګه نه ګڼل کیږي نو ځکه دوی کولی شي د خلکو سره په خبرو اترو کې ډیري اغیزمنې ثابتې شي. دوی په ښه توګه کولی شي چې د کورنیو او ټولنو سره رفتار وکړي.’

## ښځې ټولنې ته راوباسئ

په افغانستان کې د ټولنې پولیسي یا د مردمی پولیسي (Community Policing)لا اوس هم په وړه کچه او خلق الساعه ده. یو روستې راپور جوته کړي چې د ټولنې پولیسي په پراخه توګه نه ده پیژندل شوي، ډیر خلک داسي فکر کوي چې دا د پولیسو او محلي مشرانو تر همکارۍ پورې محدوده ده.[63]

د ټولنې پولیسي په حقیقت کې د ښځو لپاره یوه ګټوره لاره ده تر څو په ټولنو کې خپل شتون څرګند کړي او د مسلکي پولیسو افسرانو په توګه خپلې وړتیاوي ثابتي کړي. د ملګرو ملتونو د یو مامور له نظره: ‘ دا لومړنی فرصت دی، او دا په ټولنو کې د استاذانو، والدینو، مشرانو او مولویانو له منځ څخهکه وګوري چې ښځینه پولیسي د دوی لپاره ګټه لري، د متحدینو په جوړولو کې مرسته کوي.’[64]

دا به ډیر اغیزمن وي چې ښځینه پولیسي په ګروپي شکل د پولیسو یو څو امنیتي حوزو یا واحدونو ته ورکړل شي د دي پر ځای چې یوه یا دوه میرمنې په یو لوی تعداد حوزو کې کار وکړي. د ښځو یوه مجموعه به خپله ښځو ته دا فرصت ورکړي چې ځانونه راحت

احساس کړي، له ځورونو څخه يې وساتي او په اغيزمنه توګه خپل کارونه پر مخ يوسي. د ښځينه پوليسو ډلې په اسانۍ سره کولی شي چې دباندې ټولنو ته هم ووځي او خدمت ترسره کړي. خو د اوس لپاره، ښکاري چې ټولنيز رسوم او رواجونو او نا امنۍ به په ښاري او د ښار په اطرافو کې د پراخه خدمتونو وړاندې کول محدود کړي.

# ۶. نتیجه (پای) او توصیې

د ډېرو ښځینه پولیسو د ګمارنې په اړه ځینې مهم قدمونه اخستل شویدي تر څو هغوی په دې وتوانیږي چې د مسلکي پولیسو افسرانو په توګه خپلې دندې اجرا کړي. خو بیا هم لا ډېر څه پاتې دي چې باید وشي.

د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو یوه مهمه مجموعه د افغان مېرمنو او انجونو د امنیت او عدالت د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ضروري ده، او همدارنګه د دې لپاره هم اړینه ده تر څو افغان ملي پولیس په یوه اغېزمن، ځواب ورکونکې ملکي پولیسو ځواک باندې بدل شي. که د ښځینه پولیسوشمیر لوړ نه شي نو انفرادي ښځینه پولیسي به همداسې ځنډو ته کش کیږي، د ځورونې د خطر سره به مخامخ وي، او واړه او نوکر صفته کارونه به پرېترسره کیږي. دوی به ونه توانیږي چې د رهبری رول ولوبوي او له دې طریقهافغان مېرمنو او انجونو ته یو مثبت مثال شي.

‘مونږ باید برخوردونو ته تغیر ورکړو او همدارنګه تعداد هم ډېر کړو. خو په هر حالت کې به د پولیسو په ځواک کې د ۵۰۰۰ ښځینه پولیسو ګمارل یو ستونزمن کار وي. د دې کار به هیڅ ګټه نه وي که مېرمنې یواځې او یواځې چای پخوي یا یونیفورمونه ګنډي، یا دا چې د جنسي ځورونې سره د مبارزې لپاره کومې تګلارې نه وي موجودې.’
د LOTFA یو کارکونکی[۶۵]

په عین وخت کې، د مېرمنو ګمارل باید یواځې د شمیرو یوه لوبه نه وي. داوسنیو شرایطو په نظر کې نیولو سره، هغه موخې چېافغان دولت ټاکلې، د لاسته راوړو وړنه دي او د پولیسو په ځواک کې په یو لوی تعداد کې د بیسواده اوکمو تعلیم یافته مېرمنو ګمارل یواځې د هغوی د ناکامې یوه وسیله ده.

د ګمارنې یوه ښه ستراتیژي باید چې د روزنیزو فرصتونو او تعلیم د کچې سره برابره وي، همدارنګه د تشکیل اړوندو ستونزو د حل لپاره باید ډېرې جدي هڅې وشي چې د ښځو د پرمختګ مخه یې نیولې ده او باید چې هغوی ته هغه وسایل او اختیارات په واک کې ورکړل شي چې وشي کولی خپلې دندې پرې په صحیح توګه پر مخ یوسي.

د افغان دولت او تمویلونکو ادارو لپاره دا کال یو نمونه ی فرصت په لاس ورکوي ځکه چې د پولیسو په اړه د یو لوی ریفورم هڅې روانې دي او بله دا چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورى د ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک د پلیتابه لپاره د افغانستان لومړنې ملي کاري پلان جوړیږي.

له دې سربیره، د ډېرو نړیوالو ځواکونو د وتلو سره سره، نړیوال بسپنه ورکونکې به د افغان ملي پولیسو تمویل، روزنې او تجهیز ته دوام ورکړي. د امنیتي سکتور د سمون لپاره د دې بسپنې یوه لویه برخه باید د ښځینه پولیسو په ګمارنه او مسلکي جوړېدنه باندې ولګېږي تر څو ټولې افغان مېرمنې، په پراخه کچه ټولنه او خپله افغان ملي پولیس ترې مستفید شي.

د دي کار لپاره به د کورنیو چارو د وزارت، په لویه کې د افغان دولت او نړیوالو بسپنه ورکونکو ډېر تعهد یا ژمنتیا ته اړتیا وي. افغان میرمنې د پولیسو د داسي یو ځواک مستحقي دي چې د هغوی ساتنه وکړي او د دوی ګټې په نظر کې ونیسي. اوس نو وخت راغلي چې هڅې مو دوه چنده کړو تر څو دي ارمان ته ورسیږو.

## توصیې

### افغان دولت او نړیواله ټولنه باید:

- یوه ملي ستراتیژي رامنځ ته او پلي کړي ترڅو ښځینه پولیسي وګماري او په خپلو دندو کې یې وساتي. دغه ستراتیژي چې ملي او نړیوالې هڅې به همغږې کوي، باید له روښانوکارې پلانونو سره مله وي او د بریالي کیدو لپاره باید د مرستندویانو د کافی مالي ملاتړ څخه برخمنه وي.
- د پولیسو د سمون په ټولو هڅو کې ښځینه پولیسو ته لومړیتوب ورکړي. د مرستندویانو د کافي، او مختص شویو مالي مرستې په واسطه، د کورنیو چارو وزارت - د نړیوالو پولیسو د همغږی بورد کاري ګروپونه باید د پولیسو د عمومي منل شوي سمون په لور ځانګړي پلانونه رامنځ ته کړي ترڅو میرمنې وګمارل شي او د هغو رول زیات شي. کاري ګروپونه باید په خپل ترکیب کې د ښځو چارو له وزارت څخه د جندر متخصصین، د جندر-حساسو پولیسي چارو کارپوهان، لوړ پوړي ښځینه افغان پولیسي او مدنيټولنه‌ځای ولري.
- مسلکي روزنو او فرصتونو ته د ښځو یو شان لاس رسی ډاډمن کړي، او د حقوقو او جندر په اړه بهتري روزني ټول پرسونل ته ورسو ي. افغان دولت او نړیوال ماموریتونه باید د ښځینه پولیسو لپاره مسلکي کورسونه او فرصتونه زیات کړي ( د موټر چلوونې او عدلي موضوعګانو په اړه د ځانګړو روزنو په ګډون)، د ښځو لپاره د سواد ټولګیو ته لومړیتوب ورکړي، او ډاډمن کړي چې ټول افغان ملي پولیس د جندر په کوریکولم یا نصاب او د ښځو په ملي او نړیوالو حقوقو باندې پوهیږي (د ښځو پ ر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون په ګډون).
- د افغانستان لپاره د یو پیاوړي او اغیزمن ملي کاري پلان رامنځ ته کیدل ډاډمن کړي ترڅو د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک (UNSCR1325) پلي کړي. د افغانستان دولت باید د مرستندویانو له لوري په یوه کافي کچه تمویل شوي ملي کاري پلان کې روښانه او مرتبط شاخصونه ولري چې په پولیسو او په پراخه کچه په امنیتي سکتور کې د ښځو له ونډې سره تړاو ولري راونغاړي، په ځانګړې توګه د پریکړې کولو یا تصمیم نیولو په کچه کې.

# د افغانستان د کورنیو چارو وزارت باید:

- د معلوماتو او ګمارلو یو پراخه کمپاین رامنځته او پل ی کړي، ګمارنه باید هغو نویو ګمارل شویو میرمنو ته چې زده کړې یې نه دي کړي د روزنې او زده کړې فرصتونه برابر کړي او هغو میرمنو ته چې زده کړې لري لوړې دندې وړاندې کړي، ګمارنه باید ټولنې ته د ښځینه پولیسو د ګټ و په اړه د عامه معلوماتو له کمپاین سره مله وي.
- د ښځینه پولیس و لپاره یو خوندي کارې چاپریال رامنځته کړي. د کورنیو چارو وزارت باید بیړني ګامونه پورته کړي ترڅو اړینې اسانتیاوې چمتو کړي (د بیلګې په توګه قلف کیدونکې تشنابونه او د جامو د بدلولو خونې)، دا ډاډمن کړي چې ښځې د شکایتونو یو مصئون اغیزمن میکانیزم باندې هم خبري او هم ورته لاسرسی لري ، لوړ رتبه ښځینه پولیسو افسرانو ته د شخصي ساتونکو چمتو کول په پام کې ونیسی، او ډاډمن کړ ئ چې په ټولو ولسوالیو او ولایاتو کې میشت پولیس له اړونده پالیسیو څخه خبر دي( د بیلګې په توګه د جنسی ځورونې په اړه د ۲۰۱۳ کال لارښود).
- ډاډمنه کړي چې ملي پالیسیګانې په سیمه ایزه کچه پلې کیږي. د مشرتابه کمیټې تر څارنې لاندې ، د کورنیو چارو وزارت باید ډاډمنه کړي چې پالیسیګانې یې د جنسیت (جندر) حساسو ملي او نړیوالو معیارونو سره په سمون کې دي، او د ملي پالیسیو د پلي کولو لپاره چې په سیمه ایزه کچه د ښځینه پولیسو ملاتړ کوي، هڅې زیاتې کړ ي، د پولیسو ولایتي رئیسانو ته د کورنیو چارو د وزارت د لارښوونو صادرولو په ګډون.
- تشکیل بیا اصلاح (ریفورم) کړي. په سمونونو یا اصلاحاتوکې باید د ګمارنې لپاره روښانه پالیسیګانې او د دندو ځانګړې لایحې، د ښځو لپاره د زیاتو پوستونو په پام کې نیول ( د لوړو پوستونو په ګډون)، او د نورو ادارو ا واحدونو مشخص کول شامل وي چې ښځې په کې کار کولی شي – د کورنې غبرګون واحدونه (FRUs)، د ګمارنې، د څارګرې، د پاسپورت ریاست، د جنایي څیړنو ریاست او د مخدره توکو په خلاف د مبارزې د ادارو په ګډون . د ګمارنې او بیا کتنې ناپیلي بوردونه چې نارینه، ښځینه او د مدني ټولنې استازي په کې ګډون ولري، باید رامنځ ته شي.
- ډاډمنه کړي چې ښځې د دنده ایز پرمختګ مناسبو فرصتونو ته لاس رسی لري. د کورنیو چارو وزارت باید د پولیسو ولایتي افسرانو ته یو لړ اهداف وټاکې چې میرمنې د بریدملان او افسری په کچه پوستونو ته ترفیع وکړي – د دي ډاډمن کول چې پرمختګ یا ترفیع د وړتیاو په بنسټ ده په داسې حال کې چې ځانګړې ننګوونېته چې ښځې ورسره مخامخ دي ، هم په نظر کې نیول کیږي (لکه د سواد ټیټه کچه)- او د مجربو بهرنیو ښځینه پولیسو له لوري د مشرتابه په اړه د روزنو او څارنو ترڅنګ د ګړندي پرمختګ تدابیر رامنځ ته کړي.
- په ګړندۍ توګه په ولایتي کچه د ښځینه پولیسو شمیره زیاته

کړي. د کورنیو چارو وزارت باید تحصیل کړي او روزل شوې ښځینه پولیسې په ولایتي پوستونو وګماري او هغوی ته ځینې تشویقي اسانتیاوي برابري کړي تر څو چ ې هلته پاتې شي، د FRUsاو د ټولنې د پولیسی په څیر ځانګړو شویو واحدونو ته د دغه ډوول کارکوونکو ځانګړي کولو او همدارنګه د دغو واحدونو نالوستو غړو ته د روزنو زیاتولو ته لومړیتوب ورکړی.

## د پولیسو ولایتي رئیسان (قومندانان) باید:

- ښځینه پولیسو ته فعال ملاتړ رامنځ ته کړي. د پولیسو ولایتي رئیسان باید خپل ټول پرسونل ته لارښوونه وکړي چې هیڅ ډول جنسي ناوړه ګټه اخستنه او ځورونه د زغملو وړ نه ده، ډاډمن کړ ي چې شکای‌تونه په رڼه توګه تر څیړنې لاندې نیول کیږي او ځوروونکي او اذیت کوونکي په روښانه توګه مجازات کیږي، او همدارنګه دا هم ډاډمن کړ ي چې ښځینه پولیسې مناسبو وسایلو، شخصي ترانسپورت، د ښځو لپاره بیل ځای او د ماشومانو د پالنې ځای ته لاس رسی ولري.
- په دې موخه هڅې زیاتې کړي چې ښځینه پولیسې په ټولنو کې وګمارل شي. ښځینه پولسې باید امنیتي حوزو کې په ګروپي شکل چې د غړو شمیر يې له پنځو څخه لږ نه وي ، وګمارل شي چې هم دوی د ازار او اذیت په وړاندې وساتي او هم دوی وتوانیږي چې په اغیزمنه توګه ټولنو ته لاس رسی ولري. د پولیسو مشران باید همدارنګه دا هم ډاډمن کړي چې ښځینه پولیسې په اغیزمنه توګه خپلې مسلکي دندې پ ر مخ یوسي، په ځانګړې توګه په FRUsاو ټولنو کې.
- د کورني غبرګون واحدونه پیاوړي کړي. د پولیسو مشران کولای شي چې دغه چاره له دې لارې ډاډمنه کړي چې FRUsتل روزل شوې او لوستې ښځینه پولیسې په خپل جوړښت کې ولر ي، د شر عیاتو د پوهنځي فارغین د حقوقي سلاکارو په توګه وګمارل شي ، او چیرته چې شونې وي د ښځو تر مشرتابه لاندې واحدونو ځای پرځای شي.FRUsشایې هغه ځای د دفتر په توګه وکاروي چې په دې موخه د مرستندویانو له لوري چمتو شوی، او یا شایې چې د پولیسو د دفتر یو ځانګړی ځای ورکړل شي (چې د ننوتلو لاره یې بیله وي)، او همدارنګه ترانسپورت ته له لاس رسي سره چې وکولای شي ټولنو ته په خدمت کې د FRU له کارکوونکو سره مرسته وکړي.

## ټول هغه دولتونه چې د افغان ملي پولیسو ملاتړ کوي باید:

- د ښځینه پولیسو د ګمارلو، په دنده کې د ساتلو او پرمختګ په موخه ځانګړې بسپنه تخصیص کړي. لومړیتوبونه باید د لیک لوست د پرمختللي کولو لپاره ملاتړ، د ټولنې پولیسي، لیواله کوونکي ګامونه (لکه اضافي امتیازات، د کورنۍ د روغتیا پالنې پلان او کور ورکول)، د ښځینه وو لپاره د بیلو اسانتیاوو، د ښځینه پولیسو د ټولنو په څیر اړینې

زیربناوې، او د لوړ پوړو ښځینه پولیسو افسرانو په ځانګړې توګه د ولایتي پولیسو مشرانو لپاره روزنې او څارنې ، راونغاړي.

- د حالاتو په بنسټ امنیتي تمویل یا بسپنه برابره کړي. مرستندویان باید افغان ملي امنیتي ځواکونو سره اوږد مهاله ملاتړ او مرسته وکړي – په ځانګړې توګه هغه مهال چې افغانان په ۲۰۱۴ کال کې د ټول افغانستان امنیتي مسؤولیت په غاړه‌اخلي- او هم نړیواله ټولنه خپله کومکونه د ښځینه پولیسو د ګمارنې او مسلکي پرمختګ د شاخصونو پورې وتړي.مرستندویان باید همدارنګه په تشکیل کی د ښځینه پولیسو د پوستونو لپاره ځانګړي بسپنه تخصیص کړي او له ۲۰۱۵ کال لپاره د وړاندیز شویو قطع شویو پیسو څخه یې تړې وساتي.
- د مدني ټولنو د نوښتونو لپاره اوږد مهاله اړینه بسپنه برابره کړي . بسپنه باید د هغو ګروپونو لپاره اولویت بندي شي چې د ښځینه پولیسو د ملاتړ په برخه کې کار کوي، د هغو هڅو په ګډون چې په ټولنه کې د دې اصل منل زیاتوي، نارینه او ښځینه اتلان او الګوګانې رامنځ ته کوي او د افغانو ښځینه پولیسو ټولنې له نورو نړیوالو شبکیلو لورو (لکه د ښځینه پولیسو د نړیوالې ټولنې او په مسلمانو هیوادونو کې له ورته نورو ګروپونو) سره نښلوي.
- په افغان ملي پولیسو کې د خپلواکې څارنې ملاتړ وکړي. مرستندویان باید په کافی کچه د پولیسو د شکایاتو د اوریدو دفتر تمویل کړي ترڅو ډاډمنه شي چې ښځې کولاۍ شي اغیزمن او ناپیلي د شکایتو میکانیزم ته لاس رسۍ ومومي. دا باید په ملي کچه د لومړي توب درلودونکې موضوع په توګه په پام کې ونیول شي ترڅو په ولایتي کچه لاس رسۍ ډاډمن کړي.
- ډاډمن کړي چې د پولیسو ټولې نړیوالې روزنې او څارنې د جندر له اړخه حساسې دي. د ځواکونو مرسته کوونکي هیوادونه باید له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته دISAF په‌ماموریت کې د جندر په برخه کې سلاکاران په په خپلو ځایونو پریږدي ترڅو د ناټو خپل د ۱۳۲۵ ملي کارې پلان پلي کیدل شوني کړي، په داسې حال کې چې مرستندویان باید دا ډاډمن کړي چې د LOTFA نوی پړاو چی په ۲۰۱۴ کال کې پیل کیږي د مشرتابه په کمیټه کې د مدني ټولنې استازۍ په بر کې ونیسي.

## نړیوال د پولیسو ماموریتونه باید:

- د څارني پروګرامو روان وساتي. د EUPOL او د یوناما د پولیسو د مشور تې د واحد په څیر ارګانونه باید د لوړ پوړو نارینه او ښځینه پولیسو افسرانو، په ځانګړې توګه د ولایتي پولیسو د مشرانو لپاره د کیفیت لرونکو ملکي مربیانو د چمتو کولو په موخه کار ته دوام ورکړي. د مربي ګرۍ پروګرام‌ونه باید هر هغه ځاۍ ته چې شونې وي وغزول شي (او یا لږ تر لږه له ۲۰۱۴ کال وروسته په همدغه اوسنۍ

کچه وساتل شي)، او له ګاونډيو هيوادونو او په بيلابيلو سيمو کې د پوليسو د مشرانو ترمنځ اړيکې رامنځ ته کړي. .

- د کورنيو چارو د وزارت د جندر او بشري حقوقو له واحدونو سره ملاتړ ته لومړيتوب ورکړي. د پوليسو نړيوال ماموريتونه بايد دا ډاډمن کړي چې د جندر او د بشر د حقوقو د واحدونو د وړتيا لوړونې په موخه هڅې ، هم په کابل کې د کورنيو چارو وزارت او هم د ولاياتو په کچه، د پوليسو د سمونو په هڅو کې لومړيتوب لري. دا بايد د جنس او عمر له مخې د معلوماتو د رامنځ ته کولو په ګډون، د معلوماتو د راټولولو د سيستمونو پياوړي کول راونغاړي.

## ملګري ملتونه بايد:

- د معلوماتو راټولول او کارل پرمختللي کړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموريت ، کله چې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته په هغو شاخصونو باندې درې مياشتنې راپور ورکوي، بايد ،په افغان ملي پوليسو کې د ښځو پر ونډې د جامع راپور ورکوونې په ګډون د جنسيت په اساس د راپور را ټولول او کارول ښه کړي.
- وزارتونو سره مرسته ډيره کړي. ملګري ملتونه بايد اړوندو وزارتونو ته په نښه شوی ملاتړ زيات کړي ترڅو د افغانستان د ميرمنو لپاره د ملي کاري پلان او د ملګرو ملتونو د امنيت د شورى د ۱۳۲۵ نمبر پريکړه ليک لپاره د راروان ملي کاري پلان د د پليتابه سره مرسته وشي.

# يادوونې

١ له تاوتريخوالي سره ژوند کول: په افغانستان کې په کورني بد چلند باندې يو ملي راپور، د ګلوبل رايټس په وسيله (٢٠٠٨ مارچ)
http://www.globalrights.org/site/DocServer/final_DVR_JUNE_16.pdf?docID=9803
٢ په کابل کې مرکه شوې (٢٠١٣ اپریل).
٣ سمونوال سمسور ( د پولیسو قوماندانه، ٩ ناحیه کابل). په کابل کې مرکه شوې (٢٠١٣ مارچ).
٤ د پولیسو د انګیرنې سروې، د افغانستان لپاره د قانون او نظم د اماني صندوق (LOTFA) ترپروژې لاندې د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام (UNDP)له لوري تمویل شوې. د ٢٠١٢ کال جنوري.
5 په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت (NTM-A)، (شخصي مفاهمه،٢٠١٣ز جولای). د کورنيو چارو د وزارت شميري ښايي چې ٢،٢٠٠ ښځينه پوليسي موجودي دي خو په دې کې معمولاً هغه ميرمنې يې هم شاملې کړي چې افغان ملي پوليسو کې دي خو افسراني نه دي. نو په دې اړه شميرې ډيرې وخت بې اعتباره او متناقضې دي.
6 د کورنيو چارو د وزارت سند چې د يوناما له خوا تيار شوی(٢٠١٣ز فبروری)
7 له تاوتريخوالي سره ژوند کول: په افغانستان کې په کورني بد چلند باندې يو ملي راپور، د ګلوبل رايټس په وسيله (٢٠٠٨ مارچ)
http://www.globalrights.org/site/DocServer/final_DVR_JUNE_16.pdf?docID=9803
8 د يوناما راپور (٢٠١٢ز دسمبر)لا یو اوږد جنګ پاتې دی: په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د لمنځه وړلو د قانون تطبيق، ’ افغان ملي پوليسو له اکتوبر ٢٠١١ز څخه د ٢٠١٢ز تر سپتمبر پورې په ٢٢ ولايتونو کې ذ ځو پر وړاندې د تاوتريخوالي يواځې ٧٤٠ پيښې ثبتې کړي، د ملګرو ملتونو راپور وکتل چې لږ راپور ورکونه او ثبت شويدی، ’ د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د راپور. د همدې راپور په ١۴ مخ کې راځې’ د دې پر ځای ميرمنې د ښځو چارو رياستونو يا د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسون ته مراجعه کوي چيرته چې د ٢٠١٢ز کال د مارچ له مياشتې څخه تر اکتوبره پورې د تاوتريخوالي ۴،٠١٠ پيښې يا قضيې ثبت شويدي. له هغو ٧۴٠ پيښو څخه چې د افغان ملي پوليسو له لورې ثبت شوې،۵۴ سلنه يې څارنواليو ته معرفي شوي چې له ٣١٢ ترې اخستل شوي او د شخړو د حل سنتې لارو چارو، يا د عدليې وزارت د حقوقو رياستونو ته ليږدول شوي، يا منځګړتوب په کې شوی او يا د پروسې لاندې دي.’
9 م. ارغنديوال (٢٠١٣ جون) افغان ډله، پوليس د ميرمنو پر وړاندې په يوه لويه کچه تاوتريخوالي باندې تورنوي. په لاندې انلاين ادرس کې يې ليدل شئ:
http://uk.reuters.com/article/2013/06/10/us-afghanistan-rights-idUSBRE9590JU20130610 (٢٠١٣ جولای ۴)
10 د DFID يوې خپرونې داسې نتيجه ګيري کړې چې د تاوتريخوالي سره مبارزه ’ د انفرادي ښځو، د هغوی د کورنيو، ټولنيو او قومونو لپاره د نورو پرمختيايې پايلو د لاسته راوړلو لپاره کليدي ده.’ د DFID د تمرين خپرونه، د ښځو او انجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزې لپاره د بدلون يوه نظريه، لومړی ورقه
11 د پوليسو د انګيرنې سروی، د افغانستان لپاره د قانون او نظم د اماني صندوق (LOTFA) ترپروژې لاندې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP)له لوري تمويل شوې. د ٢٠١٢ کال جنوري.
12 يوپول افغانستان (٢٠١٢، ٣١ جنوري)، د جرايمو سره په جګړه کې د ډيرو ښځينه پوليسو ګمارنه، مرسته کوي. په لاندې انلاين ادرس يې موندلی شئ: http://www.eupol-afg.eu/?q=node/135 (د ٢٠١٣ز د جون په ١٩ مه قابل دسترس وو)
13 د پوليسو د نړيوال کارکونکي سره مرکه (٢٠١٣ مارچ)
14 جنرال س. قريشي (د کورنيو چارو وزارت د جندر او بشر حقوقو د واحد ريس) ( ٩-٨ اکتوبر ٢٠١١) د ولسي پوليسو، ښځو او امنيت موضوعګانو باندې پريزينټيشن، کابل
15 APPRO (٢٠١٠) ډيريدونکي دردونه- ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی)1U
16 APPRO (٢٠١٠) ډيريدونکي دردونه- ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی)، اجرايوي لنډيز، .١٠ همدارنګه د ناټو فکټشيټ د افغان ملي پوليسو په اړه چې په لاندې ادرس انلاين پيدا کيدلی شي: http://www.isaf.nato.int/images/stories/File/factsheets/0423-11_ANSF_LR_en(1).pdf ( د ٢٠١٣ د جون په ۵ اجازه ورکړل شوې). همدارنګه د APPRO (٢٠١٠) د اساسي کرښې راپور: ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی) p8
17 APPRO (٢٠١٠) د اساسي کرښې راپور: ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی) 8,
18 د کورنيو چارو د وزارت معلومات (٢٠١٣ جولای)
19 جګړن ح. شاهي (د کورنيو چارو وزارت د جندر او بشر حقوقو ريس. مرکه (٢٠١٣ فبروری)
20 APPRO (٢٠١٠) د اساسي کرښې راپور: ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی) 50,
21 د پوليسو ملي ستراتيژي (٢٠١٠)او د پوليسو ملي پلان (٢٠١١)، دواړه د کورنيو چارو د وزارت په ويبپاڼه موندل کيدی شي. د لسو کالو لرليد نويوالو ماموريتو په واک کې راکړی، ٢٠١٣ فبروری
22 د کورنيو چارو د وزارت معلومات، (شخصي خبرې اترې، ٢٠١٣ جون ٣)
23 د کورنيو چارو وزارت (٢٠٠٩)، د ښځينه و د ګمارنې لارښود
24 د کورنيو چارو وزارت (٢٠١٣)، د ځورونې په اړه لارښود
25 د کورنيو چارو د وزارت د جندر پاليسي ( د نړيوالو ماموريتو له خوا په واک کې راکړل شوي، ٢٠١٣ فبروری)
26 د يوناما د پوليسو د واحد له طرفه پاليسي
27 د کورنيو چارو د وزارت معلومات. (شخصي خبرې اترې، ٢٠١٣ جون)
28 د کورنيو چارو د وزارت معلومات. (شخصي خبرې اترې، ٢٠١٣ جون)
29 ت. مويسابي. *افغان ملي پوليس د جرايمو او ټولنيزو بدناميو سره د مبارزې لپاره ښځينه پوليسي ګمارې.* انلاين يې ليدلی شئ: http://www.undp.org/content/undp/en/home/ourwork/womenempowerment/successstories/afghan-women-join-police-force.html (د ٢٠١٣ د اګست په ۴ ليدل شوی دی)
30 د ٢٠١٣ کال د اپريل پورې د ټولنې د ګمارنې د پروژو لنډيز، د يوناما د پوليسو د مشورتي ګروپ به خوا په واک کې راکړل شوي (٢٠١٣ می).
31 الف. کيجر (د يوناما پوليسه، کندز)، مرکه (٢٠١٣ می)
32 ج. کليمن (٢٠١٢، ٢٢ اپريل)سبا سحر: ’ افغان ميرمنې هر هغه څه کولی شي چې نارينه يې کوي’. انلاين يې ليدلی شئ: http://www.guardian.co.uk/film/2012/apr/22/afghan-films-saba-sahar-women-taliban
33 ل. کنګ. (٢٠١٠، ١١ دسمبر) د *پوليسو افغاني تلويزيوني ډرامه د درناوي د ګټلو په هڅه کې ده.* انلاين يې ليدلی شئ: http://seattletimes.com/html/nationworld/2013658192_afghancopshow12.html( د ٢٠١٣ اګست په ۴ مه ليدل شوی دی)
34 ک. فلنټاف(د ٢٠١٠ د دسمبر ٧)د *افغان پوليسو د تلويزيوني ډرامې هدف د پوليسو د نوم روښانول دي* . انلاين يې هم موندلی شئ: http://www.npr.org/2010/12/07/131857237/afghan-tv-show-aims-to-burnish-police-reputation( د ٢٠١٣ د اګست په ۴ ليدل شوی دی)
35 د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسون يو مامور، مرکه (٢٠١٣ جون)
36 د LOTFA مامورين، مرکې (٢٠١٣ فبروري)
37 د NPR راپور (٢٠١٢ مارچ) http://m.npr.org/story/148041305
38 د DoD راپور (د ٢٠١٢ دسمبر)، ٧۴.
39 د LOTFA معلومات (٢٠١٣ جولای)
40 د يوپول او يوناما معلومات
41 د جګړن شاهي سره مرکه، مرکه (٢٠١٣ جولای)
42 د کورنيو چارو وزارت د جندر او بشر حقوق، مرکه. همدارنګه د APPRO خپرونه
43 د DoD راپور (٢٠١٢ دسمبر)، ٧۴
44 APPRO (٢٠١٠) د اساسي کرښې راپور: ميرمنې په افغان ملي پوليسو کې (لا خپور شوی نه دی) 52,
45 د ښځينه پوليسي سره مرکه، هرات (٢٠١٢ نومبر)
46 د افغان ملي پوليسو يو نارينه کپتان، مرکه
47 يوناما (٢٠١٣ اپريل ١۶)
48 د افغان ښځو د ادارو په استازيتوب يو استازی، مرکه (٢٠١٣ فبروری)
49 د ښځينه پوليسي سره مرکه، هرات (٢٠١٢ نومبر)
50 Ibid

51 يوپول افغانستان (اپريل ۲۰۱۳)، *د بشر د حقوقو، جندر او ماشومانو حقوقو په اړه نوی لارښود کتاب* . انلاين يې هم موندلی شئ:
http://www.eupol-afg.eu/?q=node%2F269
52 نړيوال سوله ساتې ځواکونه، مامورين. مرکې
53 د متحده آيالاتو د پوځ يو استازی چې د افغان ملي پوليسو لپاره يې د يو مربي په توګه کار کاوه. مرکه ( ۲۰۱۳ مارچ)
54 Ibid
55 APPRO (۲۰۱۰) د اساسي کرښې راپور: ميرمني په افغان ملي پوليسو کي (لا خپور شوی نه دی) 26,
56 د ښځينه پوليسي سره مرکه، هرات (۲۰۱۲ نومبر)
57 د متحده آيالاتو د پوليسو يو پخوانی افسر. مرکه (۲۰۱۳ مارچ)
58 د ښځو چارو رياست د کارکونکې. مرکه (۲۰۱۳ مې)
59 ت.ج.ليمن (۲۰۱۲ د دسمبر ۲۷) د افغان ميرمنو لپاره څه په داو لګيدلي.
http://www.cnn.com/2012/12/27/opinion/lemmon-afghanistan-women
60 ع. رفيعی (ACSF). مرکه (۲۰۱۳ مې)
61 الف. ډاکټر حقيار. مرکه (۲۰۱۳ جولای)
62 د بيلګې په توګه ت. دنهم وګورئ (۲۰۰۸) د *پوليسو سمون او جندر*، ۵ (د وسله والو ځواکونو ديموکراتيک کنترول.
http://www.dcaf.ch/Publications/Police-Reform-and-Gender-Tool-2
63 APPRO (۲۰۱۰) د اساسي کرښې راپور: ميرمني په افغان ملي پوليسو کي (لا خپور شوی نه دی) 50 ,
64 د يوناما مامور. مرکه (۲۰۱۲ جولای)
65 د ملګرو ملتونو مامور. مرکه (۲۰۱۳ فبروري)

©نړیوال اکسفام د ۲۰۱۳ سپتمبر

دغه پانه د لویس هانوک له لوري ولیکل شوه، هغه غواړي چې د هغې په تولید کې د فلورتجي کلیج، شاهین، شریف عزیزي، کتي هوګس، روسلین بوتمن او ستیف کوسین د مرستې تأید وکړي. اکسفام خوښ دی چې د افغانستان د جمهوري دولت ، د کورنیو چارو د وزارت او د کلیدي خبراوي ورکوونکو چا چې د دغه راپور لپاره په مرکو کې برخه واخیسته د مرستې تأید وکړي. د د هغو پانو د لړی برخه دی چې د پرمختګ او بشري پالیسیګانو په اړه د عامه خبراوي په موخه لیکل شوې دي.

دغه خپرونه د چاپ حق لري خو متن شایي د وکالت، کمپاین کولو، زده کړې او پلټنې د موخو لپاره له فیس پرته داسې وکارول شي چې سرچینه په بشپړه توګه تأید شي. د چاپ د حق لرونکی غوښتنه کوي دا چې دغه ډوول کارونه دې له دوی سره د اغیزو د ارزونې په موخه راجستر شي، په نورو حالاتو کې د کاپي کولو لپاره، یا په نورو خپرونو کې د بیا کارووني لپاره، یا د ژباړې یا توافق لپاره، اجازه باید ډاډمنه شي او فیس شایي وضع شي. بریښنا لیک .policyandpractice@oxfam.org.uk

په دغه خپرونه کې معلومات چاپ کولو ته د تلو په مهال سم درست دي.
د ۲۰۱۳ په سپتمبر کې تر ISBN978-1-78077-399-5 لاندې د جي بي اکسفام په وسیله خپره شوې.
اکسفام جي بي، اکسفام هاوس، جان سمیت درایف، کولي، اکسفورد. OX42JY,UK

# اکسفام

له بي عدالتى او لوږي څخه د خالي راتلونكي د جوړولو په موخه د بدلون لپاره د يوه نړيوال خوځښت په توګه، اکسفام په ۹۴ هيوادونو كي د ۱۷ يو ځاى شبكه شويو سازمانونو يو نړيوال اتحاد دى:

اكسفام امريكا (www.oxfamamerica.org)
اكسفام استراليا (www.oxfam.org.au)
اكسفام په بلجيم كي (www.oxfamsol.be)
اكسفام كاناډا (www.oxfam.ca)
اكسفام فرانسه (www.oxfamfrance.org)
اكسفام جرمني (www.oxfam.de)
اكسفام لويه بريتانيا (www.oxfam.org.uk)
اكسفام هانكانګ (www.oxfam.org.hk)
اكسفام هند (www.oxfamindia.org)
اكسفام هسپانيا (www.intermonoxfam.org)
اكسفام ايرلند (www.oxfamireland.org)
اكسفام ايتاليا (www.oxfamitalia.org)
اكسفام جاپان (www.oxfam.jp)
اكسفام مكسيكو (www.oxfammexico.org)
اكسفام نوى زيلانډ (www.oxfam.org.nz)
اكسفام هالنډ (www.oxfamnovib.nl)
اكسفام كوبيک (www.oxfam.qc.ca)

مهرباني وكړى هرې استازى ته يې وليكى د زياتو معلوماتو لپاره www.oxfam.org. ته مراجعه وكړى. www.oxfam.org